# محسن

د قرآني زده کړې او پوهنې لړۍ

# ۱۱۲

# محسن تفسیر

له قرآنه یو څرک

Ketabton.com

## ۱۱۲ـ د «اخلاص» سورة

ژباړه او څېړنه :

احمد حسین «عنایت»

(c) ketabton.com: The Digital Library


د اخلاص سورۀ تشریح

ژباړه او څېړنه:

احمد حسین عنایت

بسم الله الرحمن الرحیم

د لوراند او لورین الله په نامه

سورةالاخلاص

## د اخلاص سورة (۱۱۲)

سریزه: د «اخلاص» سورت مکي دی (۴) آیتونه یوه رکوع لري، په تلاوت کې (۱۱۲) په نزول کې (۲۲) سورت دی د «الناس» له سورة څخه وروسته نازل شوی دی. البته د «سیر تحول قرآن» کتاب د محاسبو له مخې دا سورة د بعثت په لومړي کال کې د شپږو سورتونو د پیل له آیتونو څخه وروسته نازل شو ی دی نو په دې حساب کې د نزول نمبر یې (۷ ) دی، او د بعثت په لومړي کال کې نازل شوی دی. ددې سورة نوم «اخلاص» دی؛ اخلاص یعنې پاکول او خالصول: نو اخلاص یوازې ددې سورت نوم نه بلکې د مضمون او منځپانګې عنوان یې هم دی ځکه چې په دې کې خالص توحید بیان شوی دی. د قران مجید په نورو ډېریو سورتونو کې یې د نوم په توګه هاغه لفظ غوره کړی دی چې په هماغه سورة کې راغلی وي خو په دې سورة کې د اخلاص لفظ هیڅ نه دی راغلی، دې ته دا نوم د معنا له لحاظه ورکړل شوی دی، نو که هر وګړی پرې پوه شي او ایمان راوړي له شرکه به نجات ومومي.

نو د قل هوالله... سورة له دې لیده اخلاص نومول شوی دی چې له هر ډول شرک، ریا او نفاق څخه د خالص کېدلو لار ښییُ، سربېره پر دې نور نومونه هم لري: یو نوم یې توحید دی او له دې نظره توحید نومول شوی دی چې د توحید جامع اصول بیانوي. د هغه بل نوم «الاساس» دی او هغه یې له دې لامله سورة «الاساس» ګڼلی چې د هستۍ د اساس نشئت نیول د احدیت له اسمونو او صفتونو څخه څرګندوي او بالاخره هغه ته یې «نسبة الرب» ویلی چې د شرک اصلي غوټه پرانیزي هغه چې د «رب» نقش ته له آګاهانه ایمان پرته او له خالق سره د مخلوق د اړیکې له طریقه په انحراف کې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library


ددې سورت د نزول د زمانې او ځاى په اړه هم لکه د نورو ډېريو سورتونو په څېر د مفسرينو تر منځ اختلاف دى چې ځېنې دا سورت مکي ګڼي او ځېنې يې مدني ګڼي. او دا اختلاف د هاغو روايتونو پر بنا دى چې ددې سورت د نزول د سبب په اړه نقل شوي دي چې دا روايتونه په مختلفو تفسيرونو کې راغلي دي چون واضح او ثابت نه دي بيا ذکرول يې اړين نه دي، خو د يوې خبرې يادونه اړينه بولم هغه دا چې ددې سورت د توحيدي اهميت په نظر کې نېولو سره حضرت رسول اکرم په مختلفو وختونو او موقعيتونو کې مختلفو خلکو ته بار بار دا سورت تلاوت کړى دى نو هر چا چې هره واقعه نقل کړې دا سورت يې د هماغې زمانې له واقعې او مکان سره سم نازل شوى ګڼلى دى.

خو سمه خبره داده چې دا سورة لکه څنګه چې په پيل کې وويل شول مکي دى له دې سره د سورة په مضمون کې له غور کولو سره هم دا محسوسېږي چې دا سورت هم د مکې د ابتدايي دور له نازل شوو سورتونو څخه دى هغه مهال چې د الله تعالى د ذات او صفتونو په اړه د قرآن مفصل آيتونه لا نازل شوي نه ول، او د «الى الله» پر لور د «رسول الله(ص)» د بلنې په اړه چې خلکو واورېدل هغوى دا معلومول غوښتل او پوښتل چې آخر ستا هاغه رب څه راز دى؟ چې د هغه بندګۍ او عبادت ته خلک بولې. نو هغوى ته د پوښتنو ځواب او د الله د وحدانيت د وضاحت لپاره دا سورة نازل شوى دى. په ابتدايي دور کې ددې سورة د نازلېدو يو ثبوت دا هم دى چې په مکه کې د حضرت بلال څښتن يا آقا «اميه بن خلف» چې کله هغه په ګرمه سوزوونکې شګه څملولى وو او پر سينه يې ورته ستره ډبره ايښې وه نو هغه اَحَدٌ اَحَدٌ چيغې وهلې، چې دا د احد لفظ له همدې سورته اخېستل شوى وو.

## له مخکينې سورة سره اړيکه او د سورة د منځپانګې چورليځ:

څلور سورتونه: کافرون، اخلاص، فلق او ناس چې د قرآن په پاى کې ځاى پر ځاى شوي او ټول د امر له فعل، [«قل»] سره پيل کېږي، يوه مرتبطه او

(c) ketabton.com: The Digital Library


منسجمه ټولګه تشکيلوي چې په عين استقلال او بېلتون کې، يو تر بله ظريف اتصال او پيوستون هم لري. البته د کافرون سورة [ددې ټولګې لومړی سورة] او د اخلاص سورة ترمنځ، د نصر او تبت سورتونه واقع دي چې ددې څلورو سورتونو په ظاهري اتصال کې يې خنډ رامنځته کړی دی، خو که د پورته نومړو سورتونو منځپانګې ته پاملرنه وکړو، کولی شو ددوی تر منځ معنوي مشترک پيوند او اړک ومومو. په دې منځ کې د نصر او تبت دوو سورتونو د تبصرې او «معترضه جملې» عنوان موندلی چې د پرانتز په بڼه ددې دوو سورتونو تر منځ پرانستل شوی دی، له يو لورې د پيغمبر او مؤمنينو نهائی سرليک او د هڅو پايله او بلې لور ته د کافرانو سرانجام څرګندوي. ددې توضيح؛ چې د «نصر» په سورة کې له الهي مرستې او ياری څخه، او د مؤمنانو له برياليتوبه او د خدای دين ته د خلکو له پوځ پوځ داخلېدلو څخه، د نهائي پايلې په عنوان، خبر ورکوي او د «تبت» په سورة کې د ابولهب په څېر د اورلګاندو لاسونو له لنډېدو او د کفر په لارليکه د کارول شوي ځواک له بې نتيجې پاتې کېدلو څخه څرګندونه کوي. په دې ترتيب پوهېدل کېږي او په څرګنده توګه برېښي چې ولې ددې دوو سورتونو تر منځ راغلي دي. ددې ټولګې سورتونه چې يو يې د کافرانو جبهې ته مخاطب دی [قل يا ايها الکافرون...] او بل د مؤمنانو جبهه [قل هو الله احد] مخاطب کوي، چې په دې توګه د دواړو جبهو نهائي مقصد او پايله څرګنده شوې ده. پر دې بنا داسې برېښي چې د اخلاص سورة په واقعيت کې د کافرون سورة منطقي ادامه، غزونه او طبيعي دنباله ګڼل کېږي. له دې توپير سره چې د کافرون په سورة کې يې له سلبي اړخ او منفي دريځه په عبادت کې د هغوی له کړېدنې او انحراف سره ټکر کړی او «شرک» يې تر يرغل لاندې نيولی دی، [قل يا ايها الکافرون لااعبد ما تعبدون]، او د اخلاص سورة له ايجابي اړخ او مثبت دريځه د ژغور او نجات لار څرګندوي او په عبادت کې توحيد مطرح کوي [قل هو الله احد ...]. نو سربېره پر هاغې روښانه اړيکې چې دا سورت يې له کافرون سورة او د خپل

(c) ketabton.com: The Digital Library


چاپېريال له پاتې سورتونو سره لري، د تبت له سورة سره هم چې له دې مخکې واقع دی، په يوه ليکه کې واقع دی، په داسې ډول چې اصولي دريځونه او خالص توحيدي موازين او انډولونه يې، چې د ابولهبي تبليغاتو او چټياتو د ځواب په توګه ګنل کېږي او د مشرکينو د هڅو په مقابل کې د مؤحدينو د مقابلې روش او طريقه څرګندوي. مرحوم طالقاني(ره) ددې دواړو سورتونو په اړه ليکي: دا د توحيد او اخلاص جامع او خالص اعلام ـ «قل هو الله احد»، چې د نصر او تبّت له سورتونو وروسته په قرآن کې راغلی، ښايي دې واقعيت ته اشاره ولري چې د عامو خلکو لپاره، د زده کړې او باور موندلو مساعد چاپېريال او داسې عالي توحيد ته ايمان، له دليلونو او برهانونو او پيليزې روزنې او د پرانېستې فکري چاپيريال له منځته راوړو وروسته برابرېږي «قل يا ايها الکافرون»، او دا چاپيريال د توحيد د بلونکو تر برياليتوب «اذا جاء نصرالله والفتح ...»، او همدا راز د اورلګاندو لاسونو تر لنډېدو او غوڅېدو وروسته رامنځته کېږي. «تبت يدا ابى لهب».

کله چې حضرت رسول اکرم(ص) توحيد ته بلنه پيل کړه د هغه مهال د نړۍ مذهبي تصورونه او انګېرنې د شرک پر بنسټ وې. بت نمانځونکو مشرکينو د خدای تمثالونه له لرګو، ډبرو، سرو زرو، سپينو زرو او ددې په څېر له نورو شخه جوړول ـ چې شکلونه، بڼې او جسمونه به يې درلودل الاهه او الاه چې شمېر يې زيات وو د يو خدای تر څنګ يې مختلفې دندې تر سره کولې او هغوی به د خپلو حاجتونو د ليرې کولو لپاره دې الاهو او بتانو ته مراجعه کوله د هغوی له نظره د خدايانو له نسله هرې الاهې مېړه درلود او همدا راز الاه ښځه درلوده او ددوی نسل همداسې غځېده، هغوی حتا خوراک څښاک ته هم اړتيا موندله او نمانځونکو به يې ورته دا حاجت رفع کاوه. د مشرکينو يو ستر شمېر لکه هندوان په دې عقيده ول چې خدای تعالی په انساني بڼه ظهور کوي او ځېنې خلک ځانته د اوتاد او اوتار په توګه غوره کوي او خدای د هغوی په بڼه د اصلاح لپاره ځمکې ته راځي. عيسويانو که څه هم په يو خدای

(c) ketabton.com: The Digital Library


ايمان درلود خو د هغوی خدای هم لږ تر لږه يو زوی خو درلود او د پلار او زوی تر څنګه روح القدس هم په خدايي کې برخمن وو، او د تثليث عقيده يې رامنځته کړې ده. حتا د خدای مور هم وه او خوېندې يې هم درلوده. يهوديانو هم د يو خدای د منلو دعوه کوله، خو د هغوی خدای هم له ماديت او جسمانيت او نورو انساني صفتونو څخه خالي نه وو، هغه به قدم واهه، په انساني بڼه کې به ځرګندېده، د خپل کوم بنده سره به يې غېږ هم نېوله. او د يو عدد زوی[عُزير] پلار هم وو. پر دې مذهبي ډلو سربېره مجوسيان لمر نمانځي ول او صابيان ستور نمانځي ول. په دې حالت کې چې د «الله وحده لاشريک له» بلنه خلکو ته ورکړل شوه نو د خلکو په ذهن کې ددې پوښتنې پيدا کېدل چې ولې دا ټول اربابان پرېښوول کېږي او يوازې يو رب ته بلنه ورکول کېږي، يوه طبيعي خبره ده. د قرآن مجيد دا اعجاز دی چې ددې ټولو پوښتنو په مقابل کې يې په څو لفظونو کې د ځواب په ورکولو سره د توحيد داسې ځرګند تصور وړاندې کړی چې ټول مشرکانه تصورونه او انګېرنې له منځه وړي او د هغه له ذات سره د مخلوقاتو په صفتونو کې د هيڅ کوم صفت د ګکړتيا ځای نه پاتې کېږي.

---

### د سورت متن او د لُغتونو ترجمه:

| | | |
|---|---|---|
| بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ<br>قُلْ هُوَ اللَّهُ أَحَدٌ ﴿۱﴾ اللَّهُ الصَّمَدُ ﴿۲﴾ لَمْ يَلِدْ وَ لَمْ يُولَدْ ﴿۳﴾ وَ لَمْ يَكُنْ لَهُ كُفُوًا أَحَدٌ ﴿۴﴾ | | أَحَدٌ = يو، يوازېنی ـ الصَّمَدُ = ډک، بشپړ، مکمل، له خلل پرته، نااړمن، بې نياز چې نور ورته نياز او اړتيا لري، د نورو د اړتياو پوره کوونکی ـ لَمْ يَلِدْ = [چا ترې] زوکړه نه ده کړې، [څوک يې] نه دی زېږولی، څوک ترې تجزيه شوی نه دی، کومه ټوټه ترې بېله شوې نه ده ـ لَمْ يُولَدْ = [له چا] زېږېدلی نه دی، [له چا يې] زوکړه نه ده کړې، له چا تجزيه شوی نه دی، له چا رابېل شوی نه دی ـ لَمْ يَكُنْ ... أَحَدٌ = نه شته ... هيڅوک، نه دی ... يوڅوک، كُفُوًا = سيال، برابر، ساری، مثل، مل، شريک، جوړه، غبرګولی. |

(c) ketabton.com: The Digital Library


بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ

قُلْ هُوَ اللَّهُ أَحَدٌ ﴿۱﴾

وواپه،(۱) «هغه»(۲) [هماغه] يوازې يو(۳) الله(۴) دی

اللَّهُ الصَّمَدُ ﴿۲﴾

[هماغه] الله چې صمد(۵) دی [بشپړ بې نيازه دی] [= په بشپړه توګه ناړمن دی او د مخلوق ورته اړتيا ده، او مطلوب او مقصود يې دی].

لَمْ يَلِدْ وَلَمْ يُولَدْ ﴿۳﴾

نه يې [څوک] زېږولی، او نه [له چا] زېږېدلی،(٦) [= له کوم څيزه راوتلی نه دی او توليدوونکی او ټوټه کېدونکی نه دی].

وَلَمْ يَكُنْ لَهُ كُفُوًا أَحَدٌ ﴿۴﴾

او نه د هغه لپاره کوم سيال [او ساری] شته.(۷)

| قُلْ | هُوَ | اللَّهُ | أَحَدٌ | اللَّهُ | الصَّمَدُ | لَمْ يَلِدْ |
|---|---|---|---|---|---|---|
| وواپه | هغه | الله | [يوازې] يو | خدای، الله | بې نياز، ناړمن | نه يې [څوک] زېږولی |

| وَلَمْ يُولَدْ | وَلَمْ يَكُنْ | لَهُ | كُفُوًا | أَحَدٌ |
|---|---|---|---|---|
| او نه [له چا] زېږېدلی | او نه .. شته | هغه لپاره | سيال، برابر، ساری | کوم [يو] څوک |

## د سورت د مفرداتو لنډه تشريح:

۱ ـ د «قل» [وواپه] فرمان، له زماني او د نزول د ترتيب له ليده، د پيغام ابلاغولو لپاره لومړنی فرمان دی چې د بعثت په لومړي کال په مکه کې پيغمبر ته نازل شوی دی. او له هغې وروسته د «قُل» فعل ۵۲۸ ځله نور په قرآن کې تکرار شوی دی خو په هيڅ يو له هاغو لنډو آيتونو کې چې له دې سورة مخکې نازل شوي دي داسې فرمان نه دی راغلی. دا فرمان له يو لوري پخپله پيغمبر ته، د توحيد حقيقت ته د رسېدو، پوهيدو، درک کولو او تلقين لپاره دی، له بل لوري، هاغو خلکو ته چې په شرک ککړ دي او د خدای تعالی له توحيده غافل دي، هغوی ته په نظر او عمل کې، په زړوره او شجاعانه توګه د توحيدي دريځونو څرګندونه او اعلام دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library


٢ ـ معشوق او متعالي مطلق معبود او د ټولو ارزښتونو او ښکلاو جامع او ټوليز [ذوالجلال والاکرام] ته د نمانځنې او پرستش احساس، د انساني نسل د پيدايښت لـه هماغـه پيلـه او ځمکې ته له هبوط سره، د آدمي په فطرت کـې اېښـوول شـوی دی. د «هـو» نـوم چـې همدغې مطلقې هستۍ او د جهان پنځگر [حيّ او قيّوم] ته اشاره ده، د آدمي پـه ضـمير کې پټه او مرموزه ورکه شوې نښه ده چې د هغې سراغ په ډېره او لرگې، ډول ډول الاهـه گانو او «ارباب متفرقون» او ايزمونو او راز راز ايډيالوژيو کـې لټـوي او همـدا راز ملـول، سرگردانه او حيران ورپسې دي. دا ورک شوی هماغه دی چـې د مولـوي مثنـوي ددغـه بېلتون څخه د شکايت له حکايت سره پيل شوې ده:

بشنو از نی چون حکايت می کند — از جدايی ها شکايت می کند

کز نَيستان تا مرا ببُريده اند — از نفيرم مرد و زن ناليده اند

سينه خواهم شرحه شرحه از فراق — تا بگويم شرح درد اشتياق

هر کسي کو دور ماند از اصل خويش — باز جويد روزگار وصل خويش

د «هو» ضمير چې د هاغه مطلق خير او کمال او د هر حيات او حرکت د سرچينې په وصف او ستاينه کې په قرآن کې راغلی دی، له هر فکر او خيال، انگېرنې، وهم او گومان او صورت او تصوير، بڼې او انځوره چې د انسان اند او فکر جوړ کړي دي آزاد دی، يوازې يوه اشاره ده همغه ته، چې د يو مطلق گرا او بې نهايت غوښتونکي انسان مطلوب او مقصود دی، او خدای تعالی له خپله روحه په هغه کې پُو کړی او فطرت يې تل هغه بې نومه او بې نښانه، چې د تشبيه او تجزيې او ترکيب او تصوير وړ او قابل نه دی، لټوي او هغه ته اشاره کوي. د شيطان او شرک نقش په همدې کې دی چې د هغه بېساري او لا شريک لپاره شريک، او شبيه وگوماري او تکثير او تعدد ته يې ورسوي.

عجيبه دا چې د «قل» فرمان، نه يوازې دا چې پيغمبر ته د لومړي ځل لپاره په دې سورة کې صادر شوی دی، بلکې د «هُوَ» د اشارې نـوم او د «اللـه» جلالـه نـوم هـم د آيتونـو د نزول د زماني ترتيب له نظره، له نورو سورتونو څخه مخکـې پـه همـدې سـورت يعنـې د توحيد په سورة کې راغلی دی. دا سمه ده چې له دې سورة څخه مخکـې، پـر پيغمـبر د وحی ٦ لنډ پيغامونه نازل شوي دي : د علق سورة ٥ لومړني آيتونه [علـق ١ (٩٦:١) تـر ٥]، د مـدثر سـورة د پيـل ٧ آيتونـه [١ (٧٤:١) تـر٧]، د عصـر سـورة د پيـل ٢ آيتونـه [عصـر ١ (١٠٣:١) او ٢]، د ذاريات ٦ لومړني آيتونه [ذاريات ١(٥١:١ ) تر ٦]، د تکاثر د پيـل ٢ آيتونـه [تکاثر ١(١٠٢:١) او ٢] او د طور سورة ٨ لومړني آيتونه [طور ١(٥٢:١) تر ٨] ــ [ د «سير تحـوّل

(c) ketabton.com: The Digital Library


قرآن» کتاب د محاسبو د ۱۴ جدول مطابق]. خو له دې سورته په مخکينيو نازل شوو برخو کې يوازې ۴ ځله د «ربّک» نوم راغلی دی. لکه: «اقْرَأْ بِاسْمِ رَبِّكَ الَّذِي خَلَقَ... . اقْرَأْ وَرَبُّكَ الْأَكْرَمُ» [علق ۱ (۹٦:۱) او ۳]، «وَرَبَّكَ فَكَبِّرْ» [مدثر۳(۷۴:۳)] او «إِنَّ عَذَابَ رَبِّكَ لَوَاقِعٌ » [طور ۷(۵۲:۷)]. پوهېږو چې د «بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ» مبارکه جمله چې د ټولو سورتونو په پيل کې ليکل شوې ده، خو دا جمله يوازې يو ځل د سورة د پيل په توګه د حمد له سورة سره د بعثت په دريم کال کې [د اخلاص له سورة څخه دوه کاله وروسته] نازله شوې ده او له هغې وروسته د هر سورة په پيل کې ايښوول شوې ده.

په زړه پورې دا چې د «هُوَ» اشاره نوم که د لومړي ځل لپاره په دې سورة کې راغلی دی، د آخرين ځل لپاره د بقره سورة په ۲۵۵ آية (۲:۲۵۵) کې، چې د «آيةالکرسی» په نامه مشهور دی، او د پيغمبر د رسالت په وروستيو مياشتو کې نازل شوی دی: «اللَّهُ لَا إِلَهَ إِلَّا هُوَ الْحَيُّ الْقَيُّومُ ... وَهُوَ الْعَلِيُّ الْعَظِيمُ»، راغلی دی. د اخلاص په سورة کې د «هُوَ» اشاره د «اَللّهُ الصَّمَد» له نوم سره پيل کېږي، او د بقره په سورة کې د هغه صمدانيَت د «حَيّ او قَيّوم» او «علی او عظيم» له نومونو سره تفصيل ورکول کېږي.

سره ددې چې د «هُوَ» ضمير په قرآن کې راز راز مراجعو ته ورګرځي، خو که په ځانګړې توګه هاغه موردونه چې دا مرجع خدای ته ورګرځي [په: «هُوَ، لَهُوَ، فَهُوَ، وَهُوَ» ـ کې] وګڼو، شمېر يې ۲۹۰ ته رسېږي.

۳ ـ «اله» هر يو معبود ته ويل کېږي، خو له معرفه الف او لام سره، «الله» پر يوازې يو بېساري او لاشريک معبود دلالت کوي. د «الله» جلاله نوم [د سورتونو د بسم الله .. له ګڼلو سره او ۵ ځله د اللّهُم له تکرار سره] په ټوله کې ۲۸۱٦ ځله په قرآن کې تکرار شوی دی چې د عددونو جمع يې د لمانځه له رکعتونو سره مساوي ده [۲+ ۸ + ۱+٦= ۱۷]. دا شمېر نه يوازې د خدای تعالی د پاتې نېکو نومونو څخه په قرآن کې، چې په واقعيت کې د «الله» صفتونه ګڼل کېږي، ډېر دي، بلکې هيڅ يوه کليمه په دومره شمېر په قرآن کې تکرار شوې نه ده. له دې وروسته، له زيات واټن سره د «قال» کليمې مشتقات دي [۱۷۲۱ ځلې] او له دې وروسته، د رب نوم [۱۰۰۰ ځلې: د رَبَّ له ريښې ۹۸۰ ځلې، او د رَبَوَ له ريښې ۲۰ ځلې].

۴ ـ له ۷۵ موردونو څخه چې د «احد» صفت [په معرفه او نکره بڼه او له مختلفو ضميرونو سره] په قرآن کې تکرار شوی دی، يوازې په همدې يو آيت کې دی چې دا عنوان د

(c) ketabton.com: The Digital Library


«الله» لپاره کارول شوی دی. ددې پر ځای، د «واحد» [یا واحداً] عنوان ۲۱ ځلې د خدای په وصف کې راغلی دی.

لکه: «... إِنَّمَا هُوَ إِلَهٌ وَاحِدٌ ...» [انعام ۱۹ (٦:١٩)]، «... وَمَا مِنْ إِلَهٍ إِلَّا إِلَهٌ وَاحِدٌ ...» [مائده۷۳ (٥:٧٣)]، « وَإِلَهُكُمْ إِلَهٌ وَاحِدٌ ...» [بقره ۱٦۳ (٢:١٦٣)].

اَحَد د ډلې او د یو شمېر د مجموعې له منځه پر یوه دلالت کوي، لکه: اِذا جاءَ اَحَدَکُمُ الْمُوت [هر کله چې ستاسو له یوه مرګ راورسېږ]، چې د ډلې یا د افرادو د مجموعې له منځه یو فرد ته اشاره ده. په دې آیة کې چون د باري تعالی له «ذات» څخه خبره کوي، [لکه؛ بې نیازي او نه زېږول او نه زېږېدل او بېساریتوب او د مثل نه درلودل]، نو د اَحَد کلیمه یې کارولې ده چې د هغه بېلوالی او خپلواکي له مخلوقه څرګند کړي. خو په هاغو موردونو کې چې د «الله» په اړه د «واحد» صفت کارول شوی دی، د هغه نېکو «صفتونو» او اسمونو ته لکه: الوهیت، ربوبیّت، خالقیت او مالکیت ته اشاره کوي چې مشارکت نه مني او د ټوټه کېدو او تکثیر او ویشنې وړ نه دی. که په «اَحَد» کې د خدای ذاتي توحید تر نظر لاندې دی، په «واحد» کې د هغه رفتاري او د چلن توحید څرګندوي چې په جوته توګه جزء نه لري او منفرد دی.

۵ ـ د «صمد» نوم یوازې په همدې آیت کې راغلی دی او ورپسې دوو آیتونو کې یې هغه په ساده توګه معنا کړی دی: «لَمْ يَلِدْ وَلَمْ يُولَدْ. وَلَمْ يَكُنْ لَهُ كُفُوًا أَحَدٌ». د صمد په کلیمه کې یو ډول د ډک او ټېل شوي او ننوت نه منونکي مفهوم، [لکه کلکه او صافه ډبره،] شتون لري چې په مجازي بڼه له غیر څخه د مطلقې بې نیازی څرګندونه ده. په داسې حال کې چې ټول موجودات په خپل حیات او حرکت او ودې او کمال کې د نیاز او اړتیا لاس د خدای پر لور لري [رحمن ۲۹ (٥٥:٢٩)]، انسانان هم د هغه د فضل او کرم فقیران دي [فاطر۱۵ (٣٥:١٥)]، د هغه د درشل پر لور د تګ تکل لري او له هغه پرته سترګه، موخه، مقصد او مرام نه لټوي، له دې کبله د «صمد» په کلیمه کې «د قصد کولو» او تکل مفهوم غلبه کړې ده. د هاغو روایتونو پر بنسټ چې له سترو لویانو نقل شوي دي، د خدای تعالی صمدوالی مساوي دی له: خوراک او څښاک، سترړیا او خوب، تغییر، اووښتون، ترکیب او تکثیر، ټوټه کېدو او زېږون او...څخه، نااړمنتیا او بې نیازي.

٦ ـ فطري معبود «هو» ته له اشارې وروسته، او د «الله» د جلاله نوم ذکر، چې د هغه د یوازېتوب او یووالي ښکارندوی دی، هغه مهال ددې نوم تکرار د «صمد» له جامع نوم

(c) ketabton.com: The Digital Library


سره، چې له ایجابي اړخه د هغه مطلقه بې نیازي او له هر اړخه د هغه بې نهایت والی رسوي، دادی چې له سلبي بُعده د مشرکینو او اهل کتاب باورونه د پرښتو او انبیاؤ د خدای په زوی ګڼلو کې، او هغه ته د انتساب ادعا لکه: د خدای سیوری، د خدای روح، الهي برم، فرّه ایزدي او دې ته د ورته عنوانونو لاندې مردود او ناسم ګڼي. خدای نه د ولادت او تجزیه او ترکیب او تأثیر منشأ ده، او نه له څه څیزه رامنځته شوی دی. د هستۍ جهان د هغه په اراده او علم رامنځته شوی دی او پر هماغه ټیکاو دی. نه مادي موجود له هغه متولد کېږي [ لکه څنګه چې ګیاه له ځمکې، اوبه له چینې، مېوه له ونې او ...] او نه کوم لطیف موجود لکه روح [ بشري پنځګونه حسونه او د هغوی اغېزې]، نه خوب او ستړیا پر هغه راځي، نه غم او خوښي، ویره او هیله، لوږه او تنده پرې راځي. د صمد نوم په ټولو اړخونو کې مطلق کمال په خپل ځان کې رانغاړي.

۷ـ په وروستي سلبي تعریف کې، د «هو» په ذات او صفتونو کې چې مطلقه هستي ده او د جلالي او کمالي صفتونو ټولګه ده د هر ډول مثل او ساري نفي کوي؛ د هستۍ جهان او ټول مخلوق او پنځ پر هغه اړه او تړاو لري او ټول د هغه د رحمت په رڼا کې پر هغه پورې قائم او ټیکاو دي.

---

## د اخلاص سورت د ټولو [ ۱ ـ ۴] آیتونو بشپړه تشریح:

لکه څنګه چې د مخکېني سورة په اړه مو وویل، له دې څلور قل څخه چې په قرآن کې راغلي دي، د هغوی دوه، چې لومړی یې قُلْ يَا أَيُّهَا الْكَافِرُونَ دی او دوهم یې قُلْ هُوَ اللَّهُ أَحَدٌ، په بشپړه توګه یو د بل په مقابل کې دي. په لومړي کې فرمايي؛ کافرانو ته ووایه، او په دوهم کې، برعکس، مؤمنینو ته خطاب دی: قُلْ هُوَ اللَّهُ أَحَدٌ. ددوی دواړو په منځ کې د «نصر» او «تبّت» دوه سورتونه راغلي چې دوه داسې روشونه، کړه وړه او سرلیکونه بیانوي، چې یو له بل سره مخالف دي، نو پر دې بنا په طبیعي توګه «قُلْ هُوَ اللَّهُ أَحَدٌ» د «قُلْ يَا أَيُّهَا الْكَافِرُونَ» پرله پسې غځونه او ادامه ده. دا سورة موږ ته لږ تر لږه لس ځلې په هر شپېني ورځینې لمونځ کې وایو. البته د «حمد» سورة باید اوولس ځلې وویل شي او هیڅ نمونځ داسې نشته چې د «حمد» سورة ونلري.

(c) ketabton.com: The Digital Library


اصطلاحاً ويل کېږي «حمد او سورة»؛ په لمانځه کې د سورة انتخاب آزاد دی او هر سورة چې مو زړه غواړي غوره کولی شئ چې له حمد څخه وروسته يې په لمانځه کې وواياست. سُنيان يو بشپړ سورة ته مقيد نه دي او د يو سورة هره برخه چې تر اغېز لاندې يې وي، قرائت کوي او شيعيان عقيده لري چې بايد يو بشپړ سورة وويل شي. او البته لکه څنګه چې ډېری د مسلمانانو په عربي نه پوهېږي او د قرآن له آيتونو سره آشنا نه دي، نو ځکه هغوی د قرآن ډېر ساده سورتونه، چې لنډ دي او ژر پای ته رسېږي او له دوو کرښو زيات نه دي، لکه همدا «قل هو الله»، وايي. خو اړينه نه ده چې هرومرو همدا سورة وويل شي. البته د اخلاص سورة په اړه له حضرت رسول اکرم او امامانو او علمائو له قولونو ډېره زياته توصيه او سپارښتنه شوې ده.

ظاهراً له حضرت علي څخه نقل شوی دی چې فرمايلې يې دي؛ دا سورة زما دومره خوښېږي چې زړه مې غواړي هره ورځ هغه ووايم. خو دا په دې معنا نه دی چې ددې سورة لوستل اجباري دي. يوازې «حمد» دی چې بايد په هر يوه لمانځه کې وويل شي. د اخلاص سورة د قرآن مهمترين توحيدي پيغام دی. يو ډېر لنډ سورة دی، خو د قرآن جامعترين، خلاصه ترين، او مؤجزترين پيغام په خپل ځان کې لري؛ يعنې داسې برېښي چې په يوازې ځان يې د قرآن دريمه برخه، [چې توحيدي آيتونه دي] بيان کړې ده.

[قرآن په بنسټيزه توګه دريو اساسي موضوع ګانو ته پاملرنه لري توحيد، نبوت او معاد. نو ځکه توحيد د ټول قرآن دريمه برخه تشکيلوي] پر دې بنا، ډېر مهم دی چې پيغامونه يې په ښه او ژوره توګه واخلو، موږ، معمولاً او د عادت له مخې، دا سورة په لمونځونو کې او نورو مهالونو کې وايو. انسان د هاغه څيز په اړه چې له هغه سره روږدی وي، له عادت سره سم په هغه کې فکر نه کوي. ددې سورة په اړه هم همداسې دی او چون لوستل يې موږ ته عادت شوی دی، د هغې معناو ته په سلو کې ۹۵ کسان پاملرنه نه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library


دلته غواړو ددې سورة د هر آیة د توضیح په پیل کې د هغه ساده ژباړه وړاندې کړو چې ووینو له هغې څخه څه پیغام اخیستلی شو. قُلْ هُوَ اللَّهُ أَحَدٌ. [پیغبره] ووایه چې هغه [هو] هماغه چې په هر حال کې انسانان په هغه پسې دي، هغه چې د انسان فطرت د هغه په لټه کې دی، هغه یو «الله» دی چې «احد» دی. دا «قُلْ» په دې مفهوم دی لکه څنګه چې په «قُلْ يَا أَيُّهَا الْكَافِرُونَ» [کافرون۱(۱۰۹:۱)] کې دی یعنې ووایه، اعلان وکړه، په څرګنده توګه ووایه؛ او داسې ووایه چې هر څوک یې واوري، او د هیڅا لپاره د بیا پوښتنې ځای پاتې نشي. او که څوک په دې اړه وروسته له دې هم بحث کوي او پوښتنې اوچتوي د پوهېدو لپاره نه بلکې وخت ضایع کوي، نو ځکه اړینه ده په داسې مهال کې ښایي څرګنده خبره وشي.

د «قل» [ووایه] فرمان، له زماني او د نزول د ترتیب له لیده، د پیغام د ابلاغولو لپاره لومړنی فرمان دی چې د بعثت په لومړي کال په مکه کې پیغمبر ته نازل شوی دی. او له هغې وروسته د «قُل» فعل ۵۲۸ ځله نور په قرآن کې تکرار شوی دی خو په هیڅ یو له هاغو لنډو آیتونو کې چې له دې سورة مخکې نازل شوي دي داسې فرمان نه دی راغلی. دا فرمان له یو لوري پخپله پیغمبر ته، د توحید حقیقت ته د رسېدو، پوهېدو، درک کولو او تلقین لپاره دی، له بل لورې، هاغو خلکو ته چې په شرک ککړ دي او د خدای تعالی له توحیده غافل دي، هغوی ته په نظر او عمل کې، په زړوره او شجاعانه توګه د توحیدي دریځونو څرګندونه او اعلام دی.

د «هو» ضمیر چې د هاغه مطلق خیر او کمال او د هر حیات او حرکت د سرچینې په وصف او ستاینه کې په قرآن کې راغلی دی، له هر فکر او خیال، انګیرنې، وهم او ګومان او صورت او تصویر، بڼې او انځوره چې د انسان اند او فکر جوړ کړي دي آزاد دی، یوازې یوه اشاره ده همغه ته، چې د یو مطلق ګرا او بې نهایت غوښتونکي انسان مطلوب او مقصود دی، او خدای تعالی له

(c) ketabton.com: The Digital Library


خپله روحه په هغه کې پُو کړی او فطرت يې تل «هغه» بې نومه او بې نښانه، چې د تشبيه او تجزيې او ترکيب او تصوير وړ او قابل نه دی، لټوي او هغه ته اشاره کوي. د شيطان او شرک نقش په همدې کې دی چې د هغه بېساري او لا شريک لپاره شريک، او شبيه وګوماري او تکثير او تعدد ته يې ورسوي.

د «هُو» ضمير ځېنو د شان او برم ضـمير ګڼلـی. او دا د هاغـه ذهنـي مشهور او نوموړي کس يا حالت لپاره راځي چې د ويونکي او مخاطـب تـر منځ تـر دې بريده مشهور او مشترک وي چـې لـه ذهنـي کـړاوه پرتـه ذهـن د هغـه لـور تـه ولېږدول شي. اسلام ته د بلنې له پيل کېدو وروسته سمدلاسه د اهـلِ عـرب پـه هـر مجلـس کـې زياتـه تـوده موضـوع همـدا د اللـه تعـالی د ذات او صـفتونو موضوع وه. د دعوت او بلنې نور عنوانونـه لکـه معـاد او رسـالت هـم تـر بحـث لاندې راتلل ليکن هغوی د ضمني بحثونو حيثيت درلود، د توحيـد مسـئله تـر ټولو مهمه وه. قريشو دا موضـوع د خپلـو پلرونـو او نيکونـو د شـان او حيثيـت مسئله ګڼله او د هيڅ څيز په بيه يې د خپلو معبودانو او د خپلو نيکونـو تـوهين نشو زغملی او د هغوی نمانځنه يې کوله. د «قُلْ هُوَ اللَّهُ...» له لفظونـو څخـه دا خبره اړينه نه برېښي چې چا دې له «رسـول اللـه» څخـه دا غوښـتنه کـړې وي چې ته د خپل الله صفتونه بيان کړه او بيا «رسول الله» ورتـه دا سـورة اورولـی وي، خو لکه څنګه چې پورته مو ورته نغوته وکړه، هلته په چاپيريال کـې ددې پوښتنې په اړه د تودوخې شتون ددې خبرې لپاره کافي وو چې دا سورة نازل شي او خلکو ته واورول شي. له دې څرګنديږي چې د «هُوَاللّـهُ» مطلب بـه دا وي چې «هغه الله» چې تاسـو د هغـه پـه اړه پوښـتنې اوځوابونـه او بحثونـه او جدال کوئ که غواړئ د هغه په صفتونو پوه شئ واورئ هغه دادي؛ او ورپسې يې صفتونه بيان شوي او دا اړينه وه چې د ټولو مخالفينو خولې ټپې شـې او د نورو صفتونو په اړه د پوهېدو لپاره لاره پرانېستل شي. د خـدای تعـالی د بشـپړ توصيف او د قرآن دبلاغت تقاضا همدا ده چې دا د «هو» ضمير له هـر حـد او

(c) ketabton.com: The Digital Library


قید او تعین څخه آزاد وي او د شأن یا محدودې او ملفوظې مرجع لپاره نه وي. او باید د هغې مرجع د هستۍ مطلق کمال او د ټولو هستیو مرجع وي چې په ذاتي او کمالي حرکت کې هغه لټوي او آزاد او فطري عقلونه همغه مومي. له تقلید او حسه اغېزمن اندونه او اکتسابي عقلونه د هغه لپاره مختلف او محدود اسمونه، بڼې او ورته انځورونه جوړوي. پر دې بنا د «هو» ضمیر مبتداء او اللّه په جمله کې خبر دی او د وصفي معنا متضمن دی: «هغه» – هماغه مطلقه هستي او د فطرت په توسه څرګند شوی او بې نیازه مبداء او پرځپل ذات تېکاو دی چې د هستۍ ښکارندې او شونتیاوې په ټولیزه توګه ورته اړمنې او نیازمنې دي او پر هغه تېکاو دي.

په زړه پورې ده چې نه یوازې د «قل» فرمان، پیغمبر ته د لومړي ځل لپاره په دې سورة کې صادر شوی دی، بلکې د «هُوَ» د اشارې نوم او د «اللـه» جلالـه نوم هم د آیتونو د نزول د زماني ترتیب له نظره، له نورو سورتونو څخه مخکې په همدې سورت یعنې د توحید په سورة کې راغلی دی. دا سمه ده چې له دې سورة څخه مخکې، پر پیغمبر د وحی شپږ لنډ پیغامونه نازل شوي دي: د علق سورة ۵ لومړني آیتونه [علق ۱ (۹٦:۱) تر ۵]، د مدثر سورة د پیل ۷ آیتونه [۱ (۷۴:۱) تر۷]، د عصر سورة د پیل ۲ آیتونه [عصر۱ (۱۰۳:۱) او ۲]، د ذاریات سورة ٦ لومړني آیتونه [ذاریات۱ (۵۱:۱) تر ٦]، د تکاثر د پیل ۲ آیتونه [تکاثر۱ (۱۰۲:۱) او ۲] او د طور سورة ۸ لومړني آیتونه [ طور ۱(۵۲:۱) تر ۸] ــ [د«سیر تحوّل قرآن» کتاب د محاسبو د ۱۴ جدول مطابق]. خو له دې سورته په مخکینیو نازل شوو برخو کې یوازې ۴ ځله د «ربّک» نوم راغلی دی. لکه: «اقْرَأْ بِاسْمِ رَبِّكَ الَّذِي خَلَقَ... . اقْرَأْ وَرَبُّكَ الْأَكْرَمُ» [علق ۱ (۹٦:۱) او ۳]، «وَرَبَّكَ فَكَبِّرْ» [مدثر۳(۷۴:۳)] او «إِنَّ عَذَابَ رَبِّكَ لَوَاقِعٌ » [طور ۷(۵۲:۷)]. پوهېږو چې د «بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ» مبارکه جمله چې د ټولو سورتونو په پیل کې لیکل شوې ده، دا جمله یوازې یو ځل د سورة د پیل په توګه د حمد له سورة سره د

(c) ketabton.com: The Digital Library


بعثت په دريم کال کې [د اخلاص له سورة څخه دوه کاله وروسته] نازله شوې ده او له هغې وروسته د هر سورة په پيل کې ايښوول شوې ده.

له ټولو په زړه پورې دا چې د «هُوَ» اشاره نوم که د لومړي ځل لپاره په دې سورة کې راغلی دی، د آخرين ځل لپاره د بقره سورة په ۲۵۵ آية (۲:۲۵۵) کې، چې د «آيةالکرسی» په نامه مشهور دی، او د پيغمبر(ص) د رسالت په وروستيو مياشتو کې نازل شوی دی: «اللَّهُ لَا إِلَهَ إِلَّا هُوَ الْحَيُّ الْقَيُّومُ ... وَهُوَ الْعَلِيُّ الْعَظِيمُ»، راغلی دی. د اخلاص په سورة کې د «هُوَ» اشاره د «اَللّهُ الصَّمَد» له نوم سره پيل کېږي، او د بقره په سورة کې د هغه صمدانيَت ته د «حَيّ او قَيّوم» او «علی او عظيم» له نومونو سره تفصيل ورکول کېږي.
سره ددې چې د «هُوَ» ضمير په قرآن کې راز راز مراجعو ته ورگرځي، خو که په ځانگړې توگه هاغه موردونه چې دا مرجع خدای ته ورگرځي [په: «هُوَ، لَهُوَ، فَهُوَ، وَهُوَ» - کې] وگڼو، شمېر يې ۲۹۰ ته رسېږي.

«اله» هر يو معبود ته ويل کېږي، خو له معرفه الف او لام سره، «الله» پر يوازې يو بېساري او لاشريک معبود دلالت کوي. د «الله» جلاله نوم [د سورتونو د بسم الله .. له گڼلو سره او ۵ ځله د اللّهُم له تکرار سره] په ټوله کې ۲۸۱٦ ځله په قرآن کې تکرار شوی دی چې د عددونو جمع يې د لمانځه له رکعتونو سره مساوي ده [۲+۸+۱+٦= ۱۷]. دا شمېر، نه يوازې د خدای تعالی د پاتې نېکو نومونو څخه په قرآن کې، چې په واقعيت کې د «الله» صفتونه گڼل کېږي، ډېر دی، بلکې هيڅ يوه کليمه په دومره زيات شمېر په قرآن کې تکرار شوې نه ده. له دې وروسته، له زيات واټن سره د «قال» کليمې مشتقات دي [۱۷۲۱ ځلې] او له دې وروسته، د رب نوم [۱۰۰۰ ځلې: د رَبَّ له ريښې ۹۸۰ ځلې، او د رَبَوَ له ريښې ۲۰ ځلې].

«اللّه» اسم ذات دی، د عربو مشرکينو دا نوم د اسم ذات په توگه کاروه او په دې اړه هغوی کومه ستونزه نه درلوده، په قرآن کې يې د ټولو نېکو صفتونو

(c) ketabton.com: The Digital Library


لپاره موصوف همدا نوم ګڼلی دی؛ فرمايلې يې دي چې هغه «اللّهُ اَحَدٌ» دی ـ لغتپوهانو د وَاحِدٌ او اَحَدٌ تر منځ دا توپير کړی دی چې احد هغه دی چې په ذات کې يې کوم شريک نه وي او وَاحِدٌ هغه دی چې په صفتونو کې ځوک د هغه شريک نه وي ـ کېدی شي له همدې لامله وي چې د «احد» لفظ د الله له صفت پرته د بل چا د صفت په توګه نه دی راغلی، نو «احد» له [واحد] سره مرادف نه دی، ځکه چې واحد په شمېرنه کې لومړی او په اثباتي کلام کې راوړل کېږي. خو احد، نه لومړی عدد دی او نه معمولاً په ايجابي کلام کې ويل کېږي. احد، کله په اسمي معنا لکه «احدعشر» او کله هم په وصفي معنا راځي. خدای تعالی، «احد» دی يعنې په خپل ذات او صفتونو کې شريک او ترکيب نلري. [واحد] دی خو دويم او درېم او .... نلري. «احد»، په دې آية کې د اللّه له خبر يا صفت څخه وروسته خبر دی. د خدای تعالی په اړه ددې صفت معنا، په تام او بشپړ وحدت کې مبالغه او له هر ډول صوري او عقلي ترکيب څخه نفي کول دي او د احديت اړينتيا او د ترکيب نفې، د علم او قدرت او حيات او ارادې د صفتونو کمال او جامعيت دی.

له ۷۵ موردونو څخه چې د «احد» صفت [په معرفه او نکره بڼه او له مختلفو ضميرونو سره] په قرآن کې تکرار شوی دی، يوازې په همدې يو آيت کې دی چې دا عنوان د «الله» لپاره کارول شوی دی. ددې پر ځای، د «واحد» [ياواحداً] عنوان ۲۱ ځلې د خدای تعالی په وصف کې راغلی دی.

لکه: «... إِنَّمَا هُوَ إِلَهٌ وَاحِدٌ ...» [انعام ۱۹ (٦:١٩)]، «... وَمَا مِنْ إِلَهٍ إِلَّا إِلَهٌ وَاحِدٌ...» [مائده ۷۳ (٥:٧٣)]، « وَإِلَهُكُمْ إِلَهٌ وَاحِدٌ ...» [بقره ۱٦۳ (٢:١٦٣)].

اَحَد د ډلې او د يو شمېر د مجموعې له منځه پر يوه دلالت کوي، لکه: اِذا جاءَ اَحَدَکُمُ الْمُوت [هر کله چې ستاسو له يوه مرګ راورسېد]، چې د ډلې يا د افرادو د مجموعې له منځه يو فرد ته اشاره ده. په دې آية کې چون د باري تعالی له «ذات» څخه خبره کوي، [لکه؛ بې نيازي او نه زېږول او نه زېږېدل او

(c) ketabton.com: The Digital Library


بېساریتوب او د مثل نه درلودل]، نو د اَحَد کلیمه یې کارولې ده چې د هغه بېلوالی او خپلواکي له مخلوقه څرګند کړي. خو په هاغو موردونو کې چې د «الله» په اړه د «واحد» صفت کارول شوی دی، د هغه نېکو «صفتونو» او اسمونو ته لکه: الوهیت، ربوبیّت، خالقیت او مالکیت ته اشاره کوي چې مشارکت نه مني او د ټوټه کېدو او تکثیر او ویشنې وړ نه دی. که په «اَحَد» کې د خدای ذاتي توحید تر نظر لاندې دی، په «واحد» کې د هغه رفتاري او د چلن توحید څرګندوي چې په جوته توګه جزء نه لري او منفرد دی.

له دې څخه له هر اړخه یوګونیوالی څرګندېږي، لـه هـرې رشـتې او خپلـوۍ څخه پاکوالی او اوچتوالی د هغه له اړینیاو ګڼل کېږي، له دې څخـه دا خـبره راوځي چې هغه قدیم دی او باقي نور ټول مخلـوق او حـادث. دا اړینـه پایلـه ده چې ترې انکار د عقل خلاف دی نو دا ویل چې هغه احد دی په بله وینا دا ویل دي چې هغه قدیم لم یزل او خالق دی.

ښه، داسې ویل د څه لپاره؟ مګر آیا پیغمبر داسې ویل چې خدای دوه دي، یا درې دي یا لس دي؟ مګر آیا پیغمبر(ص) په څو خدایانو معتقد وو چې الله ورته فرمایي ووایه الله یو دی. هیڅا دا نه دي ویلي چې پیغمبر(ص) له اسلام مخکـې څو خدایانو ته معتقد وو. پیغمبر(ص) د حَنَفیه ډلې په یو ښاخ پـورې اړونـد وو، حَنَفیان، چې د نسل لړۍ یې حضرت ابـراهیم(ع) تـه رسـېده. او دا څرګنـده ده چې هغوی څو خدایانو ته معتقد نـه ول. نـو، نـه پیغمـبر(ص) څـو خـدایانو تـه معتقد وو او نه د هغه د شاوخوا سیمو خلک، حتا تر موږ پورې. مـوږ مسـلمانان هم، که خدای نمانځي اوسو هیڅ یو هم داسې نـه دي ویـلي او هـیڅ یـو هـم داسې کومه عقیده نلرو چې خدای دوه دي یا سل دي. نو دا لومړی آیة چـې وایي قُلْ هُوَ اللَّهُ أَحَدٌ څه وایي؟ غواړي څه شیز څرګند کړي، چـې مـوږ هغـې ته له پاملرنې سره باید خپل ځانونه اصلاح کړو؟ نو په ظاهري توګه دا خـو مـوږ پورې اړه نلري. موږ خو الحمدللّه یوازې احد او یو، خدای ته معتقد یو.

(c) ketabton.com: The Digital Library


دويم: اللَّهُ الصَّمَدُ. «صَمد» يعني بشپړ [کامل]، ډک. که کوم لوښی سرخالي وي، لازم دی چې ډک يې کړي؛ يا که کومه نقشه بشپړه نه ده، بايد بشپړه يې کړي؛ هر څيز چې لږ شانته کار ته اړتيا ولري بشپړ نه دی، خو خدای پوره دی، بشپړ دی، ډک دی. ډک دی يعنې؛ په جوته توګه مطلقاً بشپړ او کامل دی. سربېره پر دې د الصمد د کليمې لپاره چې کومې معنا ګانې ذکر شوي دي، څرګندېږي چې اصلي معنايې، ډېره او هر جسم او څيز چې ډک او ټپل شوی وي او تش ځايونه ونلري او خلل و نه مني. نو پر دې بنا، په «الصمد» د متعال خدای توصيفول، په دې کليمه کې د مجاز له مخې اذهانو ته د نژدېوالي لپاره راغلی دی؛ چې د يو بشپړ او کامل قدرت د مطلق شتون څرګندوی اوسي، چې په ذات او صفتونو کې يې تحديد او تغيير او اغېز منل لار نلري او د پېښو ګرد پرې نه کېني. ځکه هر هغه څه چې محدود او متغير او اغېز منونکی دی، هرومرو به پر نورو تېکاو وي او منځ به يې تش وي او له ځانه هستي او بقاء او کمال نلري. هغه مطلق او معروف وجود ته د «هو» له اشارې وروسته او د هغه د الوهيت او احديت د نوم او صفت بيان، د «اللّه» د جامع نوم تکرار او د «الصمد» د جامع وصف تعريف، د «الصمد» په دې ځانګړي صفت کې الوهيت په ډېره زياته او بشپړه توګه څرګندېږي.

د «صمد» نوم يوازې په همدې آيت کې راغلی دی او ورپسې دوو آيتونو کې يې هغه په ساده توګه معنا کړې دی: «لَمْ يَلِدْ وَلَمْ يُولَدْ. وَلَمْ يَكُنْ لَهُ كُفُوًا أَحَدٌ».

د صمد په کليمه کې يو ډول د ډک او ټپل شوي او ننوت نه منونکي مفهوم، [لکه کلکه او صافه ډبره،] شتون لري چې په مجازي بڼه له غير څخه د مطلقې بې نيازۍ څرګندونه ده. په داسې حال کې چې ټول موجودات په خپل حيات او حرکت او ودې او کمال کې د نياز او اړتيا لاس د خدای پر لور لري «يَسْأَلُهُ مَنْ فِي السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ كُلَّ يَوْمٍ هُوَ فِي شَأْنٍ» [رحمن ۲۹ (۵۵:۲۹)]

«هر څه چې په آسمانونو او ځمکه کې دي [= د ټول عالم موجودات] تل له هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library


سوال [= د نياز غوښتنه] کوي [هر څوک د هغه د درشل سوالگر دی]، هغه هره شيبه په يو کار کې دی.»، انسانان هم د هغه د فضل او کرم فقيران دي، «يَا أَيُّهَا النَّاسُ أَنْتُمُ الْفُقَرَاءُ إِلَى اللَّهِ وَاللَّهُ هُوَ الْغَنِيُّ الْحَمِيدُ.» [فاطر۱۵ (۳۵:۱۵)] «ای خلکو، تاسو ټول [د ودې او کمال په مسير کې] الله ته اړ یاست، او يوازې الله دی چې غني [نا اړمن او] ستايل شوی دی.»، د هغه د درشل پر لور د تگ تکل لري او له هغه پرته ستړه، موخه، مقصد او مرام نه لټوي، له دې کبله د «صمد» په کليمه کې «د قصد کولو» او تکل مفهوم غلبه کړې ده. د هاغو روايتونو پر بنسټ چې له سترو لويانو نقل شوي دي، د خدای تعالی صمدوالی مساوي دی له: خوراک او څښاک، ستړيا او خوب، تغيير، اووښتون، ترکيب او تکثير، ټوټه کېدو او زيږون او...څخه، نااړمنتيا او بې نيازي.

هر څه چې د کمال د صفتونو په اړه، له هر جهت او اړخه، چې فکر وکړو په هغه کې بې نهايت دي. او بې نهايت داسې يو څيز دی چې پر هغه نه ورزياتيږي. په هغې زمانه کې په عدد او رقم د خلکو سر نه خلاصيده چې ورته ووايي خدای بې نهايت دی. «الله الصمد» يعنې خدای بې نهايت دی. په خپلو ټولو څيزونو کې بې نهايت دی: په علم کې، په حکمت کې، په عظمت کې، په الوهيت کې، په رحمت کې، په عفوه کې، په عزّت کې ... لنډه دا چې په ټولو څيزونو کې. نو، هيڅ کمال داسې نشته چې انسان يې تصور کړي چې وکولی شي د هغه پر ذات وراضافه کړای شي. سمدم له «احد» څخه وروسته چې دلته د «صمد» د صفت په راوړلو يې دا يادونه کړې ده چې د احد له لفظ څخه د خدای تعالی د يوگونيوالي او له نورو پرته او بېل چې کوم انځور مخې ته راځي څوک داسې و نه گڼي چې الله تعالی کوم بېل او خاموش او بې اړيکې علةالعلل دی چې دا غلط پوهېدنه هم د نورو وسيلو او ملاتړو د لټولو سبب جوړېدلی شي. له دې غلط پوهېدنې څخه د بچ کېدو لپاره يې «اللَّهُ الصَّمَدُ» وويل او دا يې واضحه او څرگنده کړه چې سره ددې چې الله له ټولو

(c) ketabton.com: The Digital Library


څخه بېل، ناآرمن او بېساري او بې له ټولو دی خو هغه د ټولو خبرنیوی او لاس نیوی هم کوي او د ټولو لپاره د پناه اخیستنې د سترغر په توګه دی د ټولو لپاره د ستونزو د حل یوازینی درشل او مرجع دی د هغه بندګان چې کله هغه ته فریاد کوي هغه یې فریاد اوري او د ټولو فریاد ته رسېدنه کوي.

بنه، اوس له دې خبرې څخه موږ څه درک کوو؟ کله چې وایو «الله الصمد» دا زموږ له ژوند سره څه اړیکه لري؟ څه ډول [په اصطلاح] زموږ په ژوند کې اغیزمن کېږي؟ کله چې «الله الصمد» وایو، باید خپل ځان ته ستانه شو چې اوس زه باید څه وکړم او زه څه وظیفه او دنده لرم؟.

دریم: لَمْ یَلِدْ وَلَمْ یُولَدْ. خدای تعالی نه [له څه څیزه] زېږېدلی دی او نه [کوم څیز] زېږوي. ډېر ښه، مګر آیا چا داسې کومه ادعا کړې ده؟ موږ چې وسمهال دا آیة لولو غواړو څه څیز ترې ومومو؟ پاملرنه وکړئ چې له زېږولو او زېږېدلو څخه مطلب یوازې د انسانانو په اړه خبره کول نه دي؛ ټول موجودات چې موږ یې پېژنو، له حیواناتو نیولې تر نباتاتو او ګیاه ټول، د نسل او مِثل تولید کوي. مثلاً هره ګیاه له یوه تخمه راوتلې او پخپله هم یو تخم تولیدوي. حتا جامد جسمونه هم همدا ډول دي. د بېلګې په توګه رسوبې ډبرې، یا فرض کړئ اوریزې ډبرې، له هاغو موادو چې په ځمکه کې دننه شتون لري، د اورغورځي له آغېزه یې، داسې ښه موندلې ده. نو، دا ډبره له یو څیزه زېږول شوې ده. کله چې فورمول یې وینو، مثلاً څومره اوسپنه لري، څومره سیلیکان، یا څومره کاربن په کې شتون لري، معلومیږي چې کومو عناصرو یو تر بله لاس ورکړی چې دا ډبره او خاوره جوړه شوې ده. نو، په دنیا کې هیڅ څیز داسې نه شته چې له بل څیزه رامنځته شوی نه وي او پخپله هم په خپل وار د بل څیز د شتون علت او لامل شوی نه وي. دا ډبرې همدا اوس هم په خاورې د تبدیلېدو په حال کې دي. طبیعت تل د تحول او اووښتون په حال کې دی. په بنسټیزه توګه په دنیا کې هیڅ څیز شتون نه لري چې مخکې او وروسته

(c) ketabton.com: The Digital Library


ونلري. هر يو موجود له يو ځايه راوتلى دى او پخپله هم د بل څيز د رامنځته کېدو پيليز او لامل دى. يوازې خداى تعالى دى چې دا حکم د هغه په اړه رښتينى او صادق نه دى «و هُوَ الْأَوَّلُ، وَالْآخِرُ، وَالظَّاهِرُ، وَالْبَاطِنُ». [حديد۳(۵۷:۳)] نو دلته په دې سورة کې، فرمايي خداى تعالى نه زېږول شوى دى او نه کوم زوى زېږوي، نو، نه حضرت عيسى د خداى زوى دى او نه بل څوک؛ چې نور يې نسبت ورکوي.

فطري معبود «هو» ته له اشارې وروسته، او د «الله» د جلاله نوم ذکر، چې د هغه د يوازېتوب او يووالي ښکارندوى دى، هغه مهال ددې نوم تکرار د «صمد» له جامع نوم سره، چې له ايجابي اړخه د هغه مطلقه بې نيازي او له هر اړخه د هغه بې نهايت والى رسوي، دادى چې له سلبي بُعده د مشرکينو او اهل کتاب باورونه د پرښتو او انبياؤ د خداى په زوى ګڼلو کې، او هغه ته د انتساب ادعا لکه: د خداى سيورى، د خداى روح، الهي برم، فرّه ايزدي او دې ته د ورته عنوانونو لاندې مردود او ناسم ګڼي. خداى نه د ولادت او تجزيه او ترکيب او تأثير منشأ ده، او نه له څه څيزه رامنځته شوى دى. د هستۍ جهان د هغه په اراده او علم رامنځته شوى دى او پر هماغه ټيکاو دى. نه مادي موجود له هغه متولد کېږي [ لکه څنګه چې ګياه له ځمکې، اوبه له چينې، مېوه له ونې او ...] او نه کوم لطيف موجود لکه روح [ بشري پنځګونه حسونه او د هغوى اغېزې]، نه خوب او ستړيا پر هغه راځي، نه غم او خوښي، ويره او هيله، لوږه او تنده پرې راځي. د صمد نوم په ټولو اړخونو کې مطلق کمال په خپل ځان کې رانغاړي.

که له «لَمْ يَلِدْ وَلَمْ يُولَدْ» څخه مقصد يوازې زېږېدل د انسان په ډول يو انسان له بل انسان څخه وي او ووايو خداى تعالى څوک زېږولى نه دى يعنې اولاد نه لري، او له چا زېږېدلى نه دى يعنې د بل موجود اولاد نه دى، يوازې هاغو ارتاويزو او خرافه وزمو عقيدو ته چې له اسلامه مخکې يې په مختلفو اديانو

(c) ketabton.com: The Digital Library


کې شتون درلود، د نفي ځواب ورکوي؛ يعنې هاغه څه چې په مختلفو دينونو کې ويل کېدل پر دې بنا که ځوک وايي چې کوم ځيز د خدای اولاد دی [باطل دی.] د بېلګې په توګه؛ مسيحيانو چې ويل عيسی د خدای زوی دی. [چې دا خبره، لا تر اوسه د مسيحيانو په مذهبيانو کې له منځه نه ده تللې]. يا پخپله د جاهليت عربانو به ويل؛ پرښتې د خدای اولاد دی او پرښتې يې له ښځينه جنسه انګېرلې او ويل يې چې؛ دوی د خدای لوڼه دي. د دينونو له تاريخونو سره سم له پخوانيو دينونو څخه هيڅ داسې دين نه وو چې دا خرافه په کې ننوتې نه وي چې خدای اولاد لري؛ يو ځيز يې هرو مرو د خدای د اولاد په توګه فرض کړی دی. بشر له دې چې د اولاد درلودل يې د خپل ځان لپاره کمال ګڼه، او ليدل يې چې کوم انسان که اولاد ونلري ابتر او ناقص دی ويل يې چې څنګه کېدی شي زموږ خدای زوی ونلري، او موږ اولاد ولرو؛ که موږ اولاد ونلرو زموږ لپاره نقص او نيمګړتيا ده، نو هروهرو بې اولادي هم د خدای لپاره نقص او نېمګړتيا ده. همدا لامل وو چې ـ کابو ـ په ټولو تېرو اديانو کې دې باطل فکر لار موندلې ده چې خدای زوی لري. البته دا جوته ده چې د الهي پيغمبرانو [حتا د هاغو پيغمبرانو چې په واقعيت کې فيلسوفان ول نه پيغمبران] د دينونو په اصل کې دا فکر شتون نلري، چې خدای زوی لري، خو وروسته دا خرافات د يو تحريف په بڼه په اديانو کې وارد شوي دي. مثلاً په اصلي مسيحيت کې هيڅکله دا فکر شتون نلري چې مسيح د خدای زوی دی، خو دا فکر وروسته په مسيحيانو کې پيدا شو.

د زردشت په اصلي ښوونو کې داسې خبرې شتون نه درلود چې خدای زوی لري، خو د ساسانيانو په دوره کې، د زردشتيانو په منځ کې، [که هغه زرواني زردشتيان ول او يا که نور ول،] دا ډول ارتاويزي او خرافاتي خبرې پيدا شوې او هاغه فرقه چې زروانيان بلل کېږي عقيده لري چې اهورامزدا پخپله د خدای زوی دی، اهريمن هم د خدای زوی دی او اصلي خدای «زروان»

(c) ketabton.com: The Digital Library


دی او زروان يو مهال د زوی درلودلو هيله درلوده، سلګونه کلونه د زوی په هيله کې وو، وروسته يې نذر وکړ چې قرباني به وکړي که زوی ولرې، [ووينئ بشر څه راز خرافات جوړوي] وروسته يې احساس کړل چې په خپله ګېډه کې يې زوی پيدا کړی دی او د يو پر ځای يې دوه زامن پيدا شول، غبرګوني يې وزېږول، يو اهورامزدا او بل اهريمن، او بيا يې ځو زره کاله دا اهريمن او اهورامزدا يو له بل سره په مقابله کې واچول، په دې ډول ډېرې کيسې يې ورته جوړې کړې چې داسې او هغسې يې وکړل، په دې ډول ډېر چټيات.

يو مسلمان وګړی بايد خپل ځان له دې ډول عقيدو څخه پاک او بېل وګڼي او په ځانګړې توګه د «قُلْ هُوَ اللّٰهُ اَحَدٌ» مبارک سورة په پام کې ولري. البته دا مضمون په قرآن کې زيات تکرار شوی دی، لکه: «وَقُلِ الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي لَمْ يَتَّخِذْ وَلَدًا وَلَمْ يَكُنْ لَهُ شَرِيكٌ فِي الْمُلْكِ وَلَمْ يَكُنْ لَهُ وَلِيٌّ مِنَ الذُّلِّ وَكَبِّرْهُ تَكْبِيرًا» [اسراء ۱۱۱(۱۷:۱۱۱)]. او ووايه ځانګړې ستاينه هغه الله ته ده چې نه يې څوک زوی نيولی او نه [د هستۍ پر جهان] په واکمنۍ کې يې کوم شريک شتون لري او نه يې د بېوسۍ له لامله کوم ملګری [او مرستيال] ورته شته او [پر دې بنا] هغه ستر وګڼه، ستر ګڼلی [د هغه د بېنهايت والي په تناسب].

خو د «لَمْ يَلِدْ وَلَمْ يُولَدْ» آية له دې معنا څخه [چې خدای نه زېږېدلی او نه يې زېږولی] ډېر پراخه او وسيع مفهوم لري. ومو ويل چې زېږېدل، يوه عامه او پراخه معنا لري. که د هغه دا عامه او پراخه معنا په نظر کې ونيسو، د مادي او طبيعت د عالم ټول موجودات، هم زېږوي او هم زېږول کيږي، يوازې مؤنث جنس نه دی چې زېږوي، مذکر جنس هم زيږول کوي؛ يوازې مؤنث او مذکر جنسونه نه دي چې زېږوي؛ جمادات هم زېږونه کوي؛ مرکبات زېږېدنه لري، عناصر زېږېدنه لري، ذرې او اتومونه زېږېدنه لري. لمر زېږېدنه لري. لمر تل د زېږونې په حالت کې دی او پخپله هم له بل څيزه زېږېدلی دی. سپوږمۍ او ستورې او هوا او ځمکه او ګياهګانې همدا راز هم زېږېدلې او هم ترې

(c) ketabton.com: The Digital Library


زېږېږي؛ هر څيز چې تاسو په نظر کې ونيسۍ تل د زېږېدنې په حالت کې دي او پخپله هم له کوم بل څيزه زېږېدلي دي.

نو د خلق کولو او زېږولو تر منځ توپير دی. زېږېدل په عامه معنا يعنې دا چې يو موجود له بل موجوده خارج شي؛ يو موجود چې اصلي ماده يې په بل موجود کې تکوّن او شتون ومومي او له هغه راوځي. زېږېدنه يعنې د يو موجود له بطن او ګېډې څخه د بل موجود راوتل دي، خو لومړی چې راوځي ډېری يې بشپړ نه راوځي، نيمګړی او کوچنی راوځي، وروسته په تدريج ورو ورو وده کوي بشپړېږي او ستريږي؛ لکه څنګه چې د انسان او حيوان بچی، له رحم څخه لومړی کوچنی راوځي وروسته ستريږي. که دوه موجوده فرض کړو چې يو موجود د بل موجود په بطن کې تکّون ومومي [يعنې هسته او زنی يې د بل موجود په بطن کې تکّون ومومي] او بيا وروسته له هغه راووځي، دا که هغه وروسته تکامل ومومي، يا تکامل ونمومي، دا زېږېدنه ده. که په دې ډول په نظر کې ونيسو، ځمکه هم تل د زېږون په حالت کې ده. معدنونه د ځمکې په بطن کې تکوّن مومي او وروسته ځمکه دا معدنونه چې د زرګونو او ميليونو کلونو په اوږدو کې يې د ځمکې په بطن کې تکوّن او شتون موندلی له خپله ځانه [له خپلې ګېډې] بيرون کوي او زېږوي. پخپله ځمکه هم زېږېدلې ده. دا خو د علمي نظريو وينا ده چې دا ځمکه او لمر او ستوري يو تر بله نښتي ول او وروسته بېل شوي دي، نو دا ټول زېږېدلي دي. قرآنکريم هم فرمايي: اصلاً ځمکه او آسمان، لومړی يو پر بل پورې نښتي ول، يعنې يو ځای ول، نو وروسته موږ يو له بله بېل کړل: «أَوَلَمْ يَرَ الَّذِينَ كَفَرُوا أَنَّ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ كَانَتَا رَتْقًا فَفَتَقْنَاهُمَا وَجَعَلْنَا مِنَ الْمَاءِ كُلَّ شَيْءٍ حَيٍّ أَفَلَا يُؤْمِنُونَ» [انبياء ۳۰ (۲۱:۳۰)] آيا هغوی چې [له توحيدي حقيقتونو څخه] انکار وکړ نه ويني چې آسمانونه او ځمکه سره نښتي ول، بيا مو هغه بېل کړل او له اوبو مو ټول ژوندي څيزونه پيدا کړل؟ آيا [د خدای په توسه طبيعت ته د ژوند بښلو له کتلو سره] بيا هم ايمان نه راوړي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library


آيا لمر له ازله همدا د لمر په بڼه وو؟ يا لمر په بله بڼه وو، بيا وروسته يې د پيدايښت پيليزې برابرې شوې او وروسته، له نورو موادو سره په دې بڼه اووښتى دى، چې علما په دې لټه کې دي چې د لمر، سپوږمۍ او ددې څېر د نورو د پيدايښت او تکوّن پر کيفيّت پوه شي چې څنګه ول او له کومه رامنځته شوي دي؟ پخپله لمر هم چې هرې لور ته «نور» ځلوي، دا نُور ځلول يې د انرژي خارجول دي. دا چې نُور او انرژي له خپل ځانه راوباسي، دا پخپله زېږونه ده.

فيلسوفان او حکيمان مدعيان دي چې هيڅ موجود په دې عالم کې نه پيداکېږي، يا نه متکوّن کېږي مګر دا چې له مخکې موجودې يوې مادې څخه پيدا شوى دى. لکه پدې عبارت چې کې وايي: كُلُّ حادِثٍ مَسْبوقٌ بِمادَّةٍ وَ مُدَّةٍ. يعنې هر څيز چې تازه را پيدا کېږي، ماده يې له مخکې موجوده وه او د هاغې مادې له ګېډې راوتلى او هماغه مادّه په فلسفي اصطلاح کې، د هغه لپاره د مادې او مور حکم لري.

آيا مور او پلار د اولاد خلق کوونکي دي؟ نه، دوى د اولاد والدين دي، هر بچې يو ځل له پلاره او بيا د مور له رحمه زېږېدلى. نو له دې لامله پلار او مور د بچي زېږوونکي دي يعنې د بچي د راوتلو تګلارې دي، نه د بچي خالق.

خو خداى تعالى د څيزونو خالق او ابداع کوونکى دى، يعنې نه د خداى وجود له کوم ځايه زېږول شوى او نه دا ټول موجودات چې د خداى تعالى پنځونه ده، له خداى تعالى زېږېدلي دي. آيا ددې معنا چې خداى تعالى عالم خلق کړى دادى چې عالم يې زېږولى دى؟ يعنې عالم د خداى له وجوده زېږېدلى او بيرون راوتلى؟ نه، عالم د خداى له وجوده نه دى راوتلى. خداى تعالى عالم ابداع کړى يعنې پنځولى دى. پنځونه، ابداع او خلقت دى. او دا مطلب په علمي او فيلسوفانه نظريو توضيح کېدى نشي او کوم مثال هم نلري.

(c) ketabton.com: The Digital Library


په هر حال مفسرين او علماء، خلقت په «جلوه» [ځلا، برېښ، ځليدنه او ښکاره کېدنه] تعبير کوي. که پوښتنه وکړئ لکه څنګه؟ وايي اصلاً مثل نلري. موږ بايد همدومره پوه شو چې له خدای سره د خلقت د عالم نسبت زېږېدنه نه، بلکې ايجاد، ابداع، خلقت او پنځونه ده، چې د خدای تعالی د جلوې د ښکاره کېدنې په حکم کې دی پرته له دې چې د خدای تعالی له وجوده کوم څيز په کومه بڼه ښکاره شي.

له دې ښکاره کېږي چې موږ د «اَلصَّمَد» له کليمې څخه هم کولی شو د «لَمْ يَلِدْ وَلَمْ يُولَدْ» نتيجه واخلو. د نيګمړي او تش منځي موجود خاصيت، يعنې هاغه موجود چې په ذات کې يې نېمګړتيا او تشه شتون لري [او دا تشه له بل ځايه په تدريجي توګه بايد ډکه شي] داده؛ چې زېږول شوی وي او وروسته وزېږوي. خو هغه ذات چې صمد [بشپړ او ډک] دی يعنې په ذات کې يې له هستۍ هيڅ تشه شتون نلري او د هغه هستي عين ذات دی او همدا راز غنا او نااړمنتيا د هغه عين ذات دی هغه [نه زيږول شوی او نه زېږوي].

په ځينو تفسيرونو کې يې هم د «صمد» په اړه د هغه اړينتياوې ذکر کړي دي چې تغيّر او تبدل او تکامل په هغه کې نه فرض کېږي او محال دي. هغه موجود چې صمد دی، د صمدوالي او تر دې بريده د کمال او بشپړوالي اړينتيا يې داده چې لَمْ يَلِدْ وَلَمْ يُولَدْ. کوم موجود چې له بل ځايه زېږول کېږي يو ناصمد او تش موجود دی، او کوم موجود چې زېږونه کوي او له خپل ځانه يو څيز بيرون ته ورکوي بيا هم داسې يو موجود دی چې منځ يې تش دی او پرله پسې ډکېږي او تشېږي، يعنې داسې يو موجود نه دی چې په خپل ذات کې دننه يې ډک وي.

پر دې بنا د «لَمْ يَلِدْ وَلَمْ يُولَدْ» معنا يوازې دا نه ده چې خدای زوی نلري يعنې عيسی د خدای زوی نه دی، عُزَير د خدای زوی نه دی، پرښتې د خدای لوڼه نه دي، او خدای د هيڅ مور او پلار اولاد نه دی؛ بلکې معنا يې له دې

(c) ketabton.com: The Digital Library


ډېره پراختره ده او هغه داده چې: د خدای تعالی ذات د طبيعت له سنخ او جنسه نه دی، د مادي عالم او موجوداتو له سنخه نه دی، حقيقي دی د مادې ماوراء او اخوا؛ چون همدا چې مادي وي، هم زيږول شوی او هم زيږوي.

څلورم: وَلَمْ يَكُن لَّهُ كُفُوًا أَحَدٌ. او هيڅوک [او هيڅ څيز] د هغه په څېر نه وو او نه دی او نه به وي. «كانَ» له زمانه راوتلی دی. يعنې نه په تېر کې، نه په اوس کې او نه په راتلونکې کې د هغه لپاره کُفو او برابر او ساری او جوړه ګنلی شو. همچاری نلري؛ څوک د هغه تر څنګه په الهي او خدايي امورو کې حتا وړوکی نقش هم نلري. موږ تر دې ځايه پوه شو چې خدای هغه دی نه دا او نه هاغه، چون نامحدود او لايتناهي دی. هغه الله دی؛ عقلونه د هغه د ذات له درک کولو ناتوان دي. هغه صمد دی. هغه «لَمْ يَلِدْ» دی. هغه «لَمْ يُولَدْ» دی. آيا دا خدای ته ځانګړي او مختص دي؟ يا کوم بل موجود هم غير له هغه مثلاً يوه مقربه پرښته يا پيغمبر اکرم هم دا ډول دی او دا صفتونه د هغه په اړه هم دي؟ آيا د پيغمبر په اړه هم کېدی شي وويل شي «هو» هغه دی؟ يا دا چې پيغمبران دا دي او هاغه دي؟ نه، «هو» يوازې همده ته ځانګړی او منحصر دی. هغه داسې يو ذات دی چې يوازې هغه ته منحصرًا بايد وويل شي «هو» نه هذا او ذاک. يوازې هغه ته په منحصره توګه بايد وويل شي – الله – نه له هغه پرته. هغه منحصرًا يوازې «احد» دی نه غير له هغه. هغه منحصرًا صمد دی نه غير له هغه. هغه منحصرًا «لَمْ يَلِدْ» دی. هغه يوازې او منحصرًا «لَمْ يُولَدْ» دی.

نو «لَمْ يَكُن لَّهُ كُفُوًا أَحَدٌ». «كُفْو» يعنې ساری، بډه، هم شان، يو شان، سيال. دوه هم شان، برابر او سيال موجوداتو ته کفو وايي. لکه څنګه چې په واده کې وايي آيا هلک او جينۍ يو د بل کفو دي؟ يعنې يو له بل سره هم شان او سيال دي؟ له اسلام مخکې ټولنيزه سيالي او يو شان والی د اعتبار وړ ول؛ که جينۍ د اشرافو له طبقې وه او هلک له ټيټې طبقې يا پر عکس، ويل يې دا واده سم نه دی چون دوی يو د بل کفو نه دي. اسلام وفرمايل: «اَلْمُؤْمِنُ كُفْوُ الْمُؤْمِنَةِ» د

(c) ketabton.com: The Digital Library


کفو لپاره اساسي شرط مؤمن کېدل دي، همدا چې دوه کسان مؤمن شول یو د بل کفو، سیال او برابر دي.

په وروستي سلبي تعریف کې، د «هو» په ذات او صفتونو کې چې مطلقه هستي ده او د جلالي او کمالي صفتونو ټولګه ده د هر ډول مثل او ساري نفي کوي؛ د هستۍ جهان او ټول مخلوق او پنځ پر هغه اړه او تړاو لري او ټول د هغه د رحمت په رڼا کې پر هغه پورې قائم او ټیکاو دي.

په بله وینا: دا ټول چې مو وویل هُوَ، الله، احد، صمد، لَمْ يَلِدْ، لَمْ يُولَدْ، آیا غیر له خدایه د بل چا لپاره هم کوم «هُوَ، صمد، الله، لم یلد، لم یولد» لرو؟ نه، وَلَمْ يَكُن لَّهُ كُفُوًا أَحَدٌ. او د هغه لپاره کوم سیال [ساری، هم شان، بډه] نشته، نه، هیڅوک او هیڅ څیز. داسې نه چې څوک د ملائکو په اړه داسې کومه خبره وکړي یا د کوم پیغمبر په اړه، همدا راز د پیغمبر د کوم صحابي په اړه داسې خبره کول ناسمه او ناروا ده، همدا راز د امامانو او بزرګانو په اړه داسې وینا نشې کېدی. دا یوازې الهي ذات ته انحصار او ځانګړې ده.

نو، موږ له دې څخه څه استفاده کولی شو؟ ایا دا یې یوازې د پیغمبر د زماني مشرکینو ته ویلي دي؟ یعنې یوازې هغوی شرک ته اعتقاد درلود؟ هو، هغوی اعتقاد درلود چې پرښتې د خدای لوڼه دي! ویل یې خدای رب الارباب دی، هغه موږ پنځولي یو، خو د جهان اداره د پرښتو په لاس کې ده او پرښتې هم د خدای لوڼه دي. نو، یو نسبت د هغه لپاره قائل ول. خو بحث په دې کې دی چې دا ادعاګانې خو مشرکینو پورې اړه لري، موږ یې ولې ووایو؟ نن ورځ مسلمانان باید ولې هغه ذکر کړي. یعنې دا چې نوره خو یې د کارولو اړینتیا له منځه تللې. دا داسې یو څیز دی چې هغوی ته ویل شوی دی او نن ورځ په جهان کې هیڅوک پرې معتقد نه دی چې ووایي خدای تعالی زېږول شوی یا زېږوي. که څوک خدای تعالی ته اعتقاد ولري، نو داسې څیزونو ته خو نور قائل نه دي. نو، مطلب یې څه دی چې دا سورة تر دې کچې مهم دی او په اړه یې دومره زیاته توصیه شوې ده، چې ویې لولئ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library


## د سورة پيغام:

و مو ويل چې موږ په خپلو پنځګونو نمونځونو کې روږدي يو چې دا سورة د حمد له سورة څخه وروسته [چې ثابت دی] تل پرله پسې قرائت کوو. پر دې ترتيب هره ورځ لږ تر لږه لس ځلې د هغه الفاظ تکراروو پرته له دې چې هاغه پيغامونه چې د «قل» له فرمان پسې راغلي دي، له ځان سره تېر کړو، او په مفهوم يې ځان پوه کړو. البته د حمد له سورة وروسته يو سورة [يا له سورة څو آيتونه] انتخابي او اختياري دي، له دې سره سره ډېری له موږ بيا هم تل د اخلاص سورة غوره کوو. که څوک هم وغواړي د هغه لامل وپوښتي له دې پرته بل کوم ځواب نه ورکول کېږي چې؛ عادت شوي يو، چون مختصر او لنډ دی، مګر کېدی شي غير له دې ولولو؟ او ددې په څېر له ډېريو خلکو نور څه نه اورئ. خو په اصل کې د پيغمبر اکرم(ص)، سترو امامانو(رح)، د حضرت رسول د ملګرو او علمائو د پرله پسې او په تکرار او ټينګار توصييو له لامله دی؛ په داسې ډول چې د هيڅ يو سورة په اړه، ددې سورة په کچه حديث او روايتونه نه دي نقل شوي، او د هغه دا ارزښت يې د توحيدي بنسټ له لامله د قرآن له دريمې برخې سره برابر ګڼلی دی [د توحيد په اړه آيتونه د قرآن دريمه برخه تشکيلوي].

پورتنی په ټينګار توصيې دا پوښتنه په ذهن کې پاروي چې مګر موږ خو ډېرو خدايانو ته معتقد نه يو او يا موږ خو له دې انحراف سره مخامخ نه يو چې پرله پسې پر خپل ځان تلقين کړو «قل هو الله احد»؟.... له علمي پرمختګونو او د بشر له عقلي ودې سره وسمهال د بت نمانځنې او په ارباب الانواع د اعتقاد درلودلو ټغر د ځمکې له ډېريو سيمو څخه ټول شوی دی او د اسلامي ټولنو په اړه خو دا پوښتنه اصلاً مطرح نه ده، مګر آيا موږ خدای تعالی خالي او خلل منونکی او اړمن ګڼو چې ووايو «الله الصمد»؟ مهمتر دا چې کوم يو مسلمان تر اوسه دا ادعا کړې ده چې خدای تعالی زېږول شوی يا زېږوي، چې ټول بايد دا اصل پرله پسې تکرار کړي چې «لم يلد و لم يولد»؟ او سر بېره پر دې، مګر

(c) ketabton.com: The Digital Library


موږ د خدای لپاره د برابرۍ، سمون، ساري او مثل له قائلېدو سره مخامخ يو چې هره ورځ پر خپل ځان دا تلقين کوو «و لم يکن له کفواً احد»؟ ....

وينو چې پورتنۍ پوښتنې ځوابونه غواړي او بايد په لټه کې يې اوسو. سره له دې چې يو شمېر پر دې اعتقاد دي چې دا آيتونه د پيغمبر د هممهالو بت نمانځونکو او د تېرو مشرکينو په اړه دي او له مسلمانانو سره هيڅ اړيکه نلري! په دې صورت کې بله پوښتنه مطرح کېږي چې که له موږ سره کومه اړيکه ونلري او په تېر تاريخ کې د خلکو د انحرافي اعتقادونو له شرحې پرته، زموږ د نن ورځ ژوند لپاره کوم پيغام نلري، نو ولې د هغه په اړه له نورو سورتو څخه يې زياته د تلاوت توصيه شوې ده؟ ددې چار حقيقت دادی چې ددې سورة پيغام د قرآن اصلي ترين او اساسي ترين پيغام دی، چې نن ورځ هم له تېر څخه ډېر او د پيغمبر(ص) له زماني څخه زياته معنا او مصداق او موضوعيت لري! ځکه چې د وسمهال شرک له تېر څخه ډېر پيچلی او ناليدی دی، او راز راز بڼې او ډولونه يې پيدا کړي دي، او ددې سورة د ذکر تلقين او تکرار ته زموږ تلپاتې اړتيا لا هم زياته شوې ده. خو بايد د کليمو او لفظونو د قالب پر ځای، د هغوی د معناو او مفهومونو روح ومومو. بايد ووينو تېر مشرکين د کومې فلسفې او ليد پر بنسټ داسې نظرياتو ته رسېدلي ول، او خپلې کړنې به يې له کوم ميزان او انډول سره توجيه کولې او څه ډول د يو خدای په عبادت کې په شرک اخته کېدل؟ آيا د هاغو افکارو او عقيدو بنسټونه منسوخ او له منځه تللي، يا ريښې يې لا تر اوسه پاتې دي او يا لا ستر غښتلي ډډونه او راز راز ښاخونه او پاڼې ترې وېشل شوي دي؟ په دې صورت کې لومړی بايد له لنډيز او اجمال سره، د مشرکينو اعتقادات هاغسې چې قرآن ستايلي دي تر نظر لاندې ونيسو.

(c) ketabton.com: The Digital Library


يعنې دا چې د ښه روښانه توضيح لپاره بايد، لومړی بايد د پيغمبر عصر ته يوه اشاره وکړو چې د پيغمبر(ص) د زمانې مشرکانو څه ډول فکر کوه چې دا آيتونه د هغوی لپاره نازل شوي دي او موږ نن ورځ څه ډول فکر کوو. قرآنکريم د مشرکانو اعترافونه بيان کړي دي او ويلې يې دي چې د هغوی اندونه څه راز ول. بايد يادونه وشي چې نه يوازې د پيغمبر هممهالو مشرکانو، بلکې د هيڅ پېر او دور مشرکانو د خالق او پنځګر له شتونه انکار نه کاوه. په هيڅ دوره کې هيڅ پيغمبر نه دی راغلی چې خلکو ته ووايي خدای تعالی ونمانځئ. او همدا راز په قرآن کې موږ اصلاً نلرو چې کوم پيغمبر راغلی وي چې خلکو ته ووايي خدای ونمانځئ. خلکو خو تل په يوه بڼه نه يوه بڼه د خدای نمانځنه کوله. خو په اصل کې د خدای نمانځنې ډول دی چې مهم دی؛ يعنې هغه څه چې د انبياؤ مقصد دی توحيدي او خالصه خدای نمانځنه ده، نه هاغه خدای نمانځنه چې په شرک ککړه او لړل شوي وي؛ د داسې خدای نمانځنې په اړه چې غلطې انګېرنې هم ورسره ګډې شوې وي، مخنيوی يې د ټولو پيغمبرانو رسالت وو. او هر پيغمبر د شرک د عناصرو له منځه وړلو لپاره مبارزه کوله.

**د مشرکينو اعترافونه:** معمولاً داسې انګېرل کېږي چې مشرکين د خدای له شتونه منکر ول او بُتان يې خپل خالق ګڼل، په داسې حال کې چې لکه څنګه چې مخکې مو هم ورته نغوته وکړه؛ نه د پيغمبر هم مهالي مشرکين او نه د هيڅ پيغمبر د زمانې مشرکين د خدای تعالی له وجود او شتونه منکر ول! د پيغمبرانو ټوله خبره د توحيد يعنې د يونمانځنې پر سر وه، او د الاهه او متفرقو اربابانو د نقش، بالذات نفي کول وو. هغوی تل او پرله پسې «لا تعبدوا الا الله» ويل او په عبادت کې به يې اخلاص مطرح کاوه. په داسې حال کې چې مشرکينو بشري نفس ته له قياس سره، خدای تعالی لکه د پادشاه په څېر او خپل ځانونو يې لکه د رعيت په څېر انګېرل چې په مطلقه توګه له پادشاه سره د اړيکې نيول او لاسرسی هيڅ امکان نلري او ولس د هغه فرمانونه د واکمنۍ د پوړونو په لړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library


کې د ژاندارم او دولتي کارمندانو له لارې مومي. هغوی خدای تعالی «رب الارباب» يعني د پرښتو پالونکی ښتن ګاڼه او په دې معتقد ول چې لکه څنګه چې د پادشاه له شأن او برم سره دا نه ښايي چې نيغ په نيغه له رعيت سره خبرې وکړي نو امرونه يې د وزيرانو، لوړ پوړو چارواکو او اشرافو له لارې د ملت پرګنو ته رسېږي، او هم د کارمندانو له لاري د خلکو عريضې او غوښتنې لوړ پوړو چارواکو او د هغوی له لارې پادشاه ته رسېږي. همدا راز د «الله» شأن هم د انسانانو په عالم کې له دخالته اجل او ډېر اوچت دی او د واسطو [لکه ملائکو، جنياتو، سلطان ظل الله، قديسينو او نورو ...] له لارې خپل امرونه انسانانو ته رسوي. «الله» د هغوی ارباب او هغوی زموږ اربابان دي چې بايد د هغوی عبادت او اطاعت وکړو چې هغوی «الله» ته زموږ د تقرب وسيله شي. [په دې اړه د آيتونو موندلو لپاره له دې سره ملو (۱) او (۲) شرحو ته مراجعه وکړئ]

قرآن د «زمر» په سورة [دريم آية] کې د هاغو کسانو استدلال چې پرته له خدايه اولياء نيسي داسې نقل کوي: «موږ ددوی عبادت نه کوو مګر له دې کبله چې د «الله» لور ته زموږ د تقرب وسيله شي!» [... وَالَّذِينَ اتَّخَذُوا مِنْ دُونِهِ أَوْلِيَاءَ مَا نَعْبُدُهُمْ إِلَّا لِيُقَرِّبُونَا إِلَى اللَّهِ زُلْفَى ...] [زمر۳ (۳۹:۳)]. له دې مخکې فرمايي: أَلَا لِلَّهِ الدِّينُ الْخَالِصُ. [زمر۳(۳۹:۳)] دين بايد د خدای لپاره خالص وي خو وَالَّذِينَ اتَّخَذُوا مِن دُونِهِ أَوْلِيَاء هاغو کسانو چې له خدای پرته د خپل ځان لپاره نور اولياء اختيار کړي دي. ددې کسانو ادعاء څه ده؟ دا چې...مَا نَعْبُدُهُمْ إِلَّا لِيُقَرِّبُونَا إِلَى اللَّهِ زُلْفَى...[زمر۳(۳۹:۳)] وايي دوی الله ته زموږ د تقرب وسيلې دي. موږ خو البته د الله عبادت کوو، خو دا بُتان موږ هغه ته نژدې کوي. په مقابل کې الله تعالی ددوی په اړه فرمايي: إِنَّ اللَّهَ لَا يَهْدِي مَنْ هُوَ كَاذِبٌ كَفَّارٌ. [زمر۳(۳۹:۳)] خدای تعالی هيڅکله هاغه ځوک چې تر دې بريده دروغجن او کَفّار وي هدايت او غوريدا ته نه رسوي. «کاذب» يعني ډېر دروغجن او «کفّار» هم هاغه ځوک چې په ناشکرۍ کې مبالغه کوي

(c) ketabton.com: The Digital Library


او ډېر ناشکره دی. داسې برېښي چې په عبادت کې خلوص د هر دین بنسټيز پیغام دی. خدای تعالی چرته ویلي دي چې نژدې کېدو ته یې واسطه اړینه ده او دا چې په دې منځ کې باید څه کسان اوسي چې تاسو خدای ته نژدې کړي؟ ته پخپله باید هڅه وکړې چې الله ته نژدې شې. ځکه دا خو کوم میخانیکي کار نه دی. مشرکینو که څه هم له خدایه په غیر درشل کې خپل سرونه مښل او په غیر له خدایه له نورو یې د تعبد احساس کاوه هغوی یې د خدای په نزد خپل «شفیعان» ګڼل: «وَيَعْبُدُونَ مِنْ دُونِ اللَّهِ مَا لَا يَضُرُّهُمْ وَلَا يَنْفَعُهُمْ وَيَقُولُونَ هَؤُلَاءِ شُفَعَاؤُنَا عِنْدَ اللَّهِ قُلْ أَتُنَبِّئُونَ اللَّهَ بِمَا لَا يَعْلَمُ فِي السَّمَاوَاتِ وَلَا فِي الْأَرْضِ سُبْحَانَهُ وَتَعَالَى عَمَّا يُشْرِكُونَ» [یونس۱۸(۱۰:۱۸)] «او له الله پرته د هاغه څه بنده ګي کوي چې نه [د عبادت د ترک په صورت کې، کولی شي] کوم ضرر ورته رسوي او نه [ورته د عبادت له تداوم سره کومه] ګټه لري، او وايي: دا [بُتان] د خدای په نزد زموږ شفیعان [او سپارښتګر] دي! ووايه: آيا الله له داسې شيزه خبروئ چې [هغه] په آسمانونو او ځمکه کې [داسې کوم شفیعان] نه پیژني. هغه پاک او لوړ دی له هغه څه چې دوی يې [ورسره] شریکوي». یعنې د خدای پر ځای، داسې شیزونه نمانځي چې نه ورته زیان رسولی شي او نه کومه ګټه ورته لري او وايي دوی د خدای په نزد زموږ شفیعان دي. خو خدای تعالی ددوی خبره په بشپړه توګه رد کړې او فرمايي هېڅکله داسې نه ده. همدا راز هغوی خدای تعالی ته د «اللهم» خطاب کاوه او د هغه په مطلقه الوهیت یې اقرار کاوه: وَإِذْ قَالُوا اللَّهُمَّ إِنْ كَانَ هَذَا هُوَ الْحَقَّ مِنْ عِنْدِكَ فَأَمْطِرْ عَلَيْنَا حِجَارَةً مِنَ السَّمَاءِ... [انفال۳۲(۸:۳۲)]. او [دریاد کړه] هاغه مهال چې دوی وویل: ای خدایه! که دا [= قرآن] هماغه حق ستا له لورې دی، نو په دې توګه پر موږ د کاڼو [= د اورشیندو ویلو توکو] اورښت و وروه! ....

په قرآن کې بې شمېره آیتونه دي چې دا موضوع بیانوي. هیله ده چې ښه پاملرنه ورته وکړو، چې دا زموږ په لید او نظر کې د شرک او توحید په نسبت ډېر زیات اغیز اچوي. یو لړ آیتونه شته چې فرمايي: که له هغوی وپوښتې چې

(c) ketabton.com: The Digital Library


آسمانونه او ځمکه چا خلق کړي دي، يا څوک سپوږمۍ او لمر ګرځوي، «يَقُولُنَ اللّهُ» هرومرو وايي الله. د بيان دا طريقه چې «که له هغوی وپوښتې» څلور ځلې په قرآن کې راغلې ده. څلور ځلې متذکر شوی چې د خدای تعالی خالقيت او دا چې دا خدای تعالی دی چې آسمانونه او ځمکه او ټول کائنات يې پنځولي دي، ټول مشرکان پرې معتقد دي. ټولو منله چې د جهان يوازينی پنځوونکی خدای تعالی دی. د رزاق والي او د حيات ورکوني او د چارو د تدبير په مسئلو کې هم فرمايي چې که له هغوی وپوښتې چې څوک له آسمانه اورښت نازلوي، يا چا تاسو ته سترګې او غوږونه درکړي دي، يا د طبيعت او انسان مرګ د چا په لاس کې دی و مَن يُدَبِّرُ الأَمْرَ [يونس۳۱(۱۰:۳۱)]، څوک د دنيا چارې چلوي، په جوته توګه ددې ټولو سوالونو په ځواب کې به وايي: اللّه. فَسَيَقُولُونَ اللّهُ.

نو نه يوازې خالقيت، بلکې رازق والی، او د عالَم اداره او په بنسټيزه توګه ژوند او مرګ يې د خدای تعالی د ځواک په لاس کې ګڼل. بيا په بل ځای کې وايي چې د ځمکې او په هغې کې د شتو موجوداتو مالکيت د هغه دی او که له مشرکانو وپوښتې؛ کوم موجودات چې په ځمکه کې دي چا پورې اړه لري، هرومرو به وايي اللّه. که له هغوی وپوښتې آسمانونه چا پنځولي، هرومرو ځواب ورکوي اللّه. که پوښتنه وکړې چا ته بايد پناه وړونکي شو. او همدا راز که وپوښتې: و مَن بِيَدِهِ مَلَكُوتُ كُلِّ شَيْءٍ [مؤمنون۸۸(۲۳:۸۸)] ، او څوک دی چې د ټولو چارو سررښته د هغه په لاس کې ده او څوک دی چې پناه ورکوي او له هغه پرته هيڅوک پناه نه ورکوي، هرومرو اقرار کوي اللّه.

نو د قرآن په آيتونو کې په څرګنده توګه برېښي چې مشرکينو د الله خالقيت، رازقيت، مالکيت، علم او عزت هم مانه او دا اصول يې خپل اعتقادي بنسټونه ګڼل! که څه هم دا چار د هاغو کسانو له ليده چې مشرکين له خدايه منکر ګڼي عجيبه ښکاري، خو لاندېني آيتونه چې د

(c) ketabton.com: The Digital Library


پوښتنې او ځواب په بڼه، پيغمبر ته د خطاب په توګه نازل شوي دي، او پورته مو هم ورته په لنډه توګه اشاره وکړه؛ د مشرکينو له انده د داسې باورونو اعتقادونه په څرګنده توګه بيانوي.

الف ـ د خدای خالقيت ته اعتقاد [ د آسمانونو او ځمکې او انسانانو خلقت] او د لمر او سپوږمۍ ايلول [او تسخيرول]:

«وَلَئِنْ سَأَلْتَهُمْ مَنْ خَلَقَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ وَسَخَّرَ الشَّمْسَ وَالْقَمَرَ لَيَقُولُنَّ اللَّهُ...» [عنکبوت ٦١ (٢٩:٦١)]. «او که له هغوی [= له م شرکينو] وپوښتې: اسمانونه [=دستورو نړۍ] او ځمکه چا پنځولي او لمر او سپوږمی چا ښکېل (او رام) [=ستاسو او د نورو موجوداتو خدمتګاران] کړي دي، هرومرو به وايي: الله! .....»

«وَلَئِنْ سَأَلْتَهُمْ مَنْ خَلَقَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ لَيَقُولُنَّ اللَّهُ قُلْ أَفَرَأَيْتُمْ مَا تَدْعُونَ مِنْ دُونِ اللَّهِ ...» [زمر ٣٨ (٣٩:٣٨)]. او که له هغوی وپوښتې: چا آسمانونه او ځمکه پنځولي دي؟ هرومرو به وايي: الله؛ ووايه: آيا په هاغو کې مو چې له الله پرته يې بلئ هيڅ اندنه کړې ده [چې هغوی څه پنځولي دي]؟.....

«وَلَئِنْ سَأَلْتَهُمْ مَنْ خَلَقَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ لَيَقُولُنَّ خَلَقَهُنَّ الْعَزِيزُ الْعَلِيمُ» [زخرف ٩ (٤٣:٩)]. او که له هغوی پوښتنه وکړې چې آسمانونه او ځمکه چا پنځولي دي؟ هرومرو به وايي: هماغه الله پنځولي چې عليم [ډېر پوه] اَبرځواکمن دی!

«وَلَئِنْ سَأَلْتَهُمْ مَنْ خَلَقَهُمْ لَيَقُولُنَّ اللَّهُ فَأَنَّى يُؤْفَكُونَ» [زخرف٨٧(٤٣:٨٧)]. او که له هغوی [= مشرکينو] وپوښتې: دوی چا پنځولي دي؟ هرومرو به وايي الله؛ نو څه ډول اپوته شوي دي [چې د پنځوونکي خالق پر ځای غير له خدايه د نورو شفاعت ته پناه وړي].

ب ـ رازقيت، مالکيت، ژوند ښښه، د چارو تدبير:

«وَلَئِنْ سَأَلْتَهُمْ مَنْ نَزَّلَ مِنَ السَّمَاءِ مَاءً فَأَحْيَا بِهِ الْأَرْضَ مِنْ بَعْدِ مَوْتِهَا لَيَقُولُنَّ اللَّهُ...» [عنکبوت ٦٣ (٢٩:٦٣)]. «او که له هغوی وپوښتې چې څوک له آسمانه

(c) ketabton.com: The Digital Library


[برکتناک] اوربښت لېږي، چې ځمکه د هغې له مرګ [= ژمي یا وچکالی] وروسته ژوندۍ کوي؟ هرومرو به وايي: الله؛ ....»

«قُلْ مَنْ يَرْزُقُكُمْ مِنَ السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ،... » «ووایه: څوک تاسو ته له آسمان او ځمکې روزي درکوي؟...»

«... أَمَّنْ يَمْلِكُ السَّمْعَ وَالْأَبْصَارَ، ...» «... یا د اورېدو او لیدو پر حسونو څوک واکمن دي [چې د هغه له نظامونو او مشیّت سره سم عمل کوي] ؟ ...»

«... وَمَنْ يُخْرِجُ الْحَيَّ مِنَ الْمَيِّتِ وَيُخْرِجُ الْمَيِّتَ مِنَ الْحَيِّ، ...» «او څوک دی چې ژوندی [موجود] له مړو [او بېځانه توکو] او مړه [او بېځانه توکي] له ژوندیو راوباسي؟ ...»

«... وَمَنْ يُدَبِّرُ الْأَمْرَ ؟ ...» او څوک دی چې د [نړۍ] د چارو تدبیر کوي؟

«... فَسَيَقُولُونَ اللَّهُ فَقُلْ أَفَلَا تَتَّقُونَ ...» «... سمدلاسه به وايي: الله! نو ولې [په عبادت کې یې له شرکه] پرهیزګاري [او پروا] نه کوئ؟ ...» [یونس ۳۱ (۱۰:۳۱)].

ج ـ د ځمکې او پر هغې د موجوداتو مالکیّت:

« قُلْ لِمَنِ الْأَرْضُ وَمَنْ فِيهَا إِنْ كُنْتُمْ تَعْلَمُونَ ؟ سَيَقُولُونَ لِلَّهِ قُلْ أَفَلَا تَذَكَّرُونَ» [مؤمنون ۸۴ (۲۳:۸۴) او ۸۵]. « ووایه: ځمکه او هاغه څه چې پکې دي چا پورې اړه لري، که واقعاً پوهېږئ؟. ژر به درته وواېي: الله پورې اړه لري؛ ووایه: [تاسو چې دا منئ] نو ولې پند نه اخلئ [د غفلت له خوبه نه راویښېږئ]؟.»

د ـ د اوه ګونو آسمانونو ربوبیت او د عرش عظیم ربوبیّت:

«قُلْ مَنْ رَبُّ السَّمَاوَاتِ السَّبْعِ وَرَبُّ الْعَرْشِ الْعَظِيمِ؟ سَيَقُولُونَ لِلَّهِ قُلْ أَفَلَا تَتَّقُونَ» [مؤمنون ۸٦ (۲۳:۸٦) او ۸۷]. «ووایه: د اووه ګونو آسمانونو د اختیار څښتن [چلوونکی او ارباب] او د ستر عرش پالونکی څښتن [دهستۍ جهان ته نظام ورکوونکی] څوک دی؟. سمدلاسه به وواېي: الله؛ ووایه: نو ولې [له سرغړونې یې] پروا نکوئ؟. »

(c) ketabton.com: The Digital Library


ر ـ د ټولې هستۍ مالکيّت او پناه ورکونه:

«قُلْ مَنْ بِيَدِهِ مَلَكُوتُ كُلِّ شَيْءٍ وَهُوَ يُجِيرُ وَلَا يُجَارُ عَلَيْهِ إِنْ كُنْتُمْ تَعْلَمُونَ. سَيَقُولُونَ لِلَّهِ قُلْ فَأَنَّى تُسْحَرُونَ.» [مؤمنون ۸۸ (۲۳:۸۸) او ۸۹]. «ووايه: که واقعاً پوهېږئ، د ټولو څيزونه سررشته [= د څيزونو د حيات او حرکت نظام / د ژويو د ژوند پنځونه] د چا په لاس کې ده او [يوازې] هغه دی چې پناه ورکوي او هيڅوک [مجرمانو ته] د هغه په وړاندې [له عذابه] پناه نشي ورکولی؟. و به وايي: د خدای په لاس کې؛ ووايه: نو څنګه [له خدای پرته او د دنيايي څواکونو په توسه] مسحور شوي ياست؟ [= تيروتي ياست ؟]».

لنډه دا چې مشرکينو له خدای پيژندنې په داسې اصولو او بنسټونو باور او اقرار درلود چې ښايي ډېرى له موږ څخه چې د مسلمانۍ مدعيان دي له هغوی سم درک ونلري! ... اوس دا پوښتنه مطرح کېږي چې که هغوی «الله» ته معتقد ول او د خدای تعالی په خالقيت، مالکيت، رازقيت او علم او قدرت او عزت او.... اعتراف کوونکي او منونکي ول، نو د مسئلې ستونزه او پر هغوی نيوکه او اعتراض له کوم لامله او له کوم ليده دی؟

يعنې که د پيغمبر د زمانې مشرکانو دا ټول څيزونه منل؟ داسې څيزونه چې حتا ډېرى له دينوالو او اوسنيو مسلمانانو يې هم تر دې کچې نه مني. نو بيا ستونزه څه وه؟ او اصلي ستونزه چرته وه؟

قرآن وايي دوه عمده او بنسټيز څيزونه چې خالقيت او الوهيت ول چې مشرکانو په هاغو کې الله منه، خو په دوو نورو بنسټيزو او اساسي څيزونو کې يې پر هغه باور نه کوه د هغوی د باور په اړه مو وويل، خو د خدای تعالی په اړه د هغوی د ناباورۍ دوه څيزونو چې؛ يو يې «ربوبيت» او بل يې «رحمانيت» وو، په لاندې توګه څېړو:

۱ ـــ ربوبيت: بايد دا نکته په نظر کې ولرو چې کله وايو: قُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ النَّاسِ. مَلِكِ النَّاسِ. إِلَهِ النَّاسِ.، دا درې واړه له يو بل سره يو ځای معنا پيدا کوي

(c) ketabton.com: The Digital Library


يعنې دا نه دی چې يوازې د خدای تعالی الوهيت ته ايمان ولرو چې هـو، يـو خدای شته او موږ يې خلق کړي يو او موږ تـه روزي هـم راکـوي، بلکـې بايـد يقين ولرو هغه چې هم زموږ خالق او پنځوونکی دی، زمـوږ رئـيس هـم دی او زموږ ارباب هم دی. دا ټول يو له بل سره تړلي دي.

موږ که د ځان په اړه غور وکړو چې؛ زموږ ارباب څوک دی؟ ستا ارباب په دنيـا کې څوک دی؟ د اميد سترګې دې د چا لاس ته دي؟ ته له چا په اندېښنه کـې يې؟ له چا ډارېږې؟ دا کافي نه دی چې سړی ووايي هو، جهان يو خالق لري؛ بلکې ووينئ چې آيا ډار او هيله يې هم هغه ته ده يا نه؟ آيا ددې اندېښنه لـري يا نه چې بايد د هغه قوانين تر پښو لاندې نه کړي؟ يا پـه دنيـا کـې د مـدير او رئيس، حاکم او شاه او د زمانې په قدرتمنـدانو او ځواکمنـانو پسـې يـې؟ دا پـه بشپړه توګه بل مطلب دی چې آيا موږ له خدای سره ژوند کوو يا نـه؟ تاسـو پـه اداره کې مثلاً د يو کارمند چلن ووينئ: ټول اميد يې رئيس او له هغه پورته تـه دی چې آيا مثلاً تنخوا يې ورته زياتوي؟ بخشش ورته ورکوي؟ آيا له کـاره خـو يې نه وباسي؟ او د همدې په خبر. د همدې خيزونو پـه نتيجـه کـې دی چـې ټول په همدې هڅه کې دي چې د خپل رئيس زړه لاسته راوړي. نو آيا موږ، په يو پراخه اړين او نغاړلي نظام کې، له خدای سره هم داسې ژونـد کـوو؟ آيـا ټوله هڅه دې داده چې د هغه رضائيت جلب کړې، لکه څنګه چـې رئـيس تـه دې پاملرنه کوې او غواړې د هغه رضائيت جلب کړې، يا هاغه څـوک چـې تـه يې استخدام کړی يې؟ په داسې حال کې چې ته فقط د هغه کارمند يې، خـو خدای تعالی تاته ستا وجود او هر څه چې ته لرې درته بښلي او عطا کړي دي. آيا ربوبيّت يې تر کومې کچې منـې؟ قـرآن ځرګنـدوي چـې د ټولـو پيغمبرانـو اصلي ستونزه له خپلو مخالفانو سره همدا «ربوبيت» دی.

په قرآنکريم کې د حضـرت موسی(ع) خبرې له فرعون سره ولولئ، ټولې يې د ربوبيت په اړه دي. فرعون په خدايانو باور درلود، خو خپـل ځـان يـې اربـاب

(c) ketabton.com: The Digital Library


ګڼه: «فَقَالَ أَنَا رَبُّكُمُ الْأَعْلَى» [نازعات ۲۴(۷۹:۲۴)]. ویل یې ټول باید په ټوله کې زما خبره واورئ: امر زما امر دی؛ زما له اجازې پرته د اوبو څښلو اجازه هم نلرئ! د حضرت ابراهیم خبره له نمرود سره هم د ربوبیّت پر سر وه. زموږ اصلي ستونزه هم همدا احساس دی چې خدای تعالی خپل واقعي ارباب ومنو او هره شېبه هغه خپل مراقب او څارونکی او خپل ناظر وګڼو؛ پر دې باور وکړو چې هغه له هر څیزه باخبر دی او موږویني او زموږ ټولې خبرې اوري؛ هره شېبه له موږ سره دی؛ زموږ سره مل دی، زموږ دننه دی.

د توحید او شرک تر منځ ډېر نرى او ظریف برید دی چې د هغه په پام کې نه نیول د ایمان له حدودو د وتو او خروج لامل کېږي. دا مرز او برید همدا «ربوبیت» دی چې مشرکینو، سره له دې چې خدای تعالی یې رب الارباب ګاڼه او په آسمانونو او عرش عظیم کې یې د هغه پر ربوبیت اعتراف درلود، د انسانانو په عالم کې، بشري نفس ته د قیاس له لامله د خدای لپاره دا ډول نقش قائل نه ول، لکه څنګه چې وویل شو هغوی د خدای شأن له دې اجل او ډېر اوچتتر ګڼه چې د رعیت په ژوند کې دخالت وکړي، لکه څنګه چې یو پادشاه نیغ په نیغه د رعیت په چارو کې د اداري لپاره کارمندان ګومارلي، دوی وایې: الله هم د پادشاه په څېر د انسانانو په عالم کې نیغ په نیغه نظارت او مدیریت نکوي. داسې یې انګېرل چې خدای تعالی د انسانانو چارې یو شمېر کارمندانو ته سپارلي دي او پخپله یوازې غوره او مهمترې چارې چې د کوچنیو خدایانو او اربابانو پورې اړوند دي سر ته رسوي! پر دې بنا دا یې خپله دنده ګڼله چې د خدای تعالی پر ځای هغوی ته توسل ولټوي او د هغوی شفاعت او وساطت وغواړي چې د «الله» لور ته ددوی د نژدېوالي او تقرب وسیله وګرځي! خو له کومه ځایه چې دا کارمندان یې نالیدي پرښتې ګڼلې، ددې لپاره چې د خلکو پرګنې وکولی شي له هغوی سره اړیکه برقرار کړي، ډېرین یا د لرګو بُتان یې د پرښتو د نښو او سمبول په توګه جوړول.

(c) ketabton.com: The Digital Library


سره ددې چې د مشرکينو «عوام الناس» و همدا بُتان نمانځل او له هغوی به يې خپل حاجتونه غوښتل، خو د شرک په فلسفه کې او د هغوی د خواصو په نزد اصلاً بُت کوم اصالت او عنوان نه درلود.

[مرحوم علامه طباطبائي (رح) د الميزان په تفسير کې د نوح سورة د ۲۳ آية تر لاندې د روايتونو برخه کې، د پنځو سترو بُتانو د پيدايښت د تاريخچې په اړه چې د هاغې زماني د پنځو سترو شخصيتونو په ياد جوړ شوي دي داسې ليکي: «دا نومونه مخکې د نوح(ع) د قوم د صالحو وګړو نومونه ول، کله چې هغوی له دنيا ولاړل د هغوی پاتي کسانو ته شيطان وحی وکړه چې په هغه مجلس کې چې دوی به جلسه درلوده مجسمې نصب کړئ او ددوی نومونه پر هاغو مجسمو کېږدئ، خلکو هم دا کار وکړ، خو هغه مجسمې يې نه نمانځلې تر هاغه مهاله چې هغه نسل منقرض شو او له منځه ولاړ او بل نسل صحنې ته راغی او چون د مخکيني نسل علم يې نه درلود مجسمې يې تر نمانځنې لاندې ونيولې»].

«وَقَالُوا لَا تَذَرُنَّ آلِهَتَكُمْ وَلَا تَذَرُنَّ وَدًّا وَلَا سُوَاعًا وَلَا يَغُوثَ وَيَعُوقَ وَنَسْرًا» [نوح ۲۳(۷۱:۲۳)]

او [د نوح تر آغېز لاندې پرګنو ته] ويې ويل: داسې نه چې [له دې خبرو سره] له خپلو خدايانو [= بُتانو] [څخه لاس واخلئ، داسې نه چې [دا پنځه ستر بُتان: «ود»، «سواع»، «يغوث»، «يعوق»، او «نسر» پرېږدئ.

اصولاً د خلکو پرګنې عادت لري ددې لپاره چې پر يو څيز ايمان راوړي هغه بايد له نږدې ووينې او لمس او درک يې کړي، دوی متعالي لوړ معنوي ارزښتونه د خپل ليد او بينش په تنګو قالبونو کې محدود او مسخ کوي.

البته په هاغو بُتانو سربېره چې په اسمانونو يا ځمکه کې د شتو پرښتو يا (الهه) خدايانو په نښانو جوړېدل او د ربوبيت [ د انسانانو د عالم د اداري او چارو د تدبير او پر لارې اچولو] نسبت هغوی ته ورکول کېده، د مختلفو مهالونو او مکانونو پر حساب، داسې يو نقش فرعونانو او سلطانانو [د ايزدي برم او جلال يا ظل الله په عنوان]، او همدا راز قديسينو او روحانيونو او حتا الهي پاکو، سپېڅلو او منزه انبيائو ته [د تثليث په فلسفه کې] قائلېدل.

(c) ketabton.com: The Digital Library


فرعون چې د «انا ربکم الاعلی» ډول غږاوه او له تمسخر او ملنډو سره به يې پر موسی او هارون چيغې وهلې «فمن ربکما يا موسی»، له «الله» څخه به يې انکار نه کاوه او د خلکو خدايانو ته معتقد وو [او ګواکې پخپله د بتخانې متولي هم وو] او هيچا د هغه له خبرو د خالقيت او الوهيت د ادعا تلقي نه کوله، او اصولاً د حضرت موسی^(ع)^ سره تل د هغه د دعوا محور «رب» وو [چې د اختيار څښتنتوب، سروری، ستروالي، شرف او آقائي په مفهوم دی] او د خدای تعالی د شتون پر سر کوم اختلاف شتون نه درلود. همدا راز «احبار او رهبان» چې قرآن، مسيحيان د هغوی د «ارباب» نېولو له لامله غندي، هيڅکله يې د هغوی د خدايي ادعا نه درلوده، «اتَّخَذُوا أَحْبَارَهُمْ وَرُهْبَانَهُمْ أَرْبَابًا مِنْ دُونِ اللَّهِ ...» [توبه ۳۱(۹:۳۱)] «هغوی خپل ديني عالمان او راهبان د الله پر ځای [لکه] د [داسې] اربابانو په توګه [چې د مطلقه ولايت لرونکي دي] ونېول ...» بلکې خلکو به د هغوی دومره درناوی کوه، او د هغوی درجه به يې دومره اوچته ګڼله چې خپلې ټولې اړتياوې به يې له هغوی غوښتې، او ويل به يې موږ مختوري يو او دوی د خدای تعالی رسيدلي خلک دي، دوی زموږ او د خدای تر منځ واسطه دي او دوی زموږ ټولې ستونزې رفع کوي.

په دې ترتيب د «رب» معنا د هاغه څه پرخلاف چې په عرف کې پېژندل شوې، خدای توب او خالقيت نه دی، لکه څنګه چې د کور نارينه ته له دې لامله چې د کور پالنه او د چارو تدبير او پر کورنۍ مشري او برلاسی لري «رب البيت» [د کور څښتن] وايي، خدای تعالی ته هم له دې لامله چې د وجود د ټول عالم چلوونکی او سرور او سيّد او د انسانانو ژوند ته سازمان ورکوونکی دی «رب» [پالونکی څښتن] ويل کېږي. د هغه د ربوبيت پايله د موجوداتو روزنه او تربيت او د هغوی رشد، وده او کمال دی. او لکه څنګه چې وويل شول مشرکينو د خپلې محدودې نظريې پر بنسټ د انسانانو په عالم کې د خدای تعالی دا راز دخالت نه منه او خدای تعالی ته پر شريکانو قائلېدل؛ ددې لپاره چې بايد داسې بې اهميته! چارې د هغوی [شريکانو] په غاړه وي!

(c) ketabton.com: The Digital Library


۲ ـ رحمانيت: «رحمانيت» يعني د خدای تعالی د رحمت نور پر ټولو ځيزونو او هر چا ځلېدا لري او خپرېږي؛ لکه د لمر په څېر ټول ځايونه روښانه کوي. مشرکانو د خدای رحيم والی منه، خو د هغه «رحمانيت» يې نه منه. د «رحمانيت» معنا داده چې خدای تعالی ټولو ته پاملرنه لري پرته له دې چې کوم طبقاتي اختلاف په منځ کې وي. د ثروت او قدرت او نژاد پر بنسټ فردي او طبقاتي بېلونې او امتيازونه رحمانيت ته د باور درلودلو له غوښتنې او اقتضا پر خلاف دي. نژادي او قومي او قبيله ګي او ددې په څېر نورې انګېرنې بايد لېرې وغورځول شي. خدای تعالی رحمان دی و الرَّحْمَنُ عَلَى الْعَرْشِ اسْتَوَى. [طه۵ (۲۰:۵)] رحمان د جهان د اداري د مېز شاته ناست دی او عام رحمت لري او مساوات او برابری يې د انسانانو تر منځ بر قرار کړی دی: تاسو پر نورو د غوره والي، برلاسی او ټول غوښتني حق نلرئ.

يعني مشرکينو نه يوازې «ربوبيت»، بلکې د خدای تعالی له «رحمانيت» څخه هم چې د مخلوقاتو چارو ته رسېدنه او د علّت او تدبير سرچينه ده انکار کاوه. هغوی کوم دليل نه ليده چې د هستی لايزال خالق پر هاغه څه چې خلق کړي دي نظاره او ننداره ولري او هغه ته د رحمت فيضان ورسوي.

د مشرکينو له ليده د انسانانو په ژوند کې د خدای تعالی نقش په هماغه د خلق کيدو او پيدا کېدو په پړاو کې پای ته رسېږي او له خدای تعالی سره د انسان اړيکه ناشوني ګڼل کېږي، په داسې حال کې چې په توحيدي ليد کې د خدای تعالی نقش مستمر، تلپاتې او دائمي دی او بندګان پرله پسې، لا ينقطع د هغه د رحمت په انوارو کې دي او شوني نه ده چې حتا يوه شېبه هم دا فيض هېر شي. د داسې اعتقاد پايله او نتيجه دا ده چې:

لومړی؛ د خدای تعالی حاضر او ناظر ګڼل د ژوند په ټولو چارو او شرايطو کې دی، او همدا راز توکل او توسل هغه ته دی، دويم؛ د ټولو کائناتو د مشترک خالق له ورکړې او بخښښه په برخمن کېدو کې د ټولو بندګانو مساوي ګڼل

(c) ketabton.com: The Digital Library


دي. ځکه چې د «رحمانيت» معنا د خدای تعالی عام او جهان شمول رحمت دی او له رنګ او جنسيت، پوړ او طبقې او درجې او ... پرته ټول بندګان رانغاړي. [د هغه د «رحيم» والي پر خلاف چې خاص رحمت ته عنايت او پاملرنه لري] لاندېني آيتونه د مشرکينو له لور [الله ته له اعتقاد سره سره] د هغه له رحمانيت څخه انکار څرګندوي:

«...أَهَـذَا الَّـذِي يَـذْكُرُ آلِهَـتَكُمْ وَهُـمْ بِـذِكْرِ الـرَّحْمَنِ هُـمْ كَـافِرُونَ» [انبياء۳٦(۲۱:۳٦)]. «...آيا دا هماغه کس دی چې ستاسو خدايان [د انکار له دريځه] يادوي؟ په داسې حال کې چې دوی پخپله د رحمان خدای له ياده منکر دي [او بُتانو ته نه پاملرنه نه بښونکي ګُناه ګڼي، خو د خدای تعالی نړۍ نغاړونکي رحمانيت ته نه پاملرنه ګناه نه ګڼي].»

«وَمَنْ يَعْشُ عَنْ ذِكْرِ الرَّحْمَنِ نُقَيِّضْ لَـهُ شَـيْطَانًا....» [زخرف ۳٦ (۴۳:۳٦)]. «او هر هغه څوک چې د رحمان [خدای] له ياده د زړه سترګې پټې کړي، د هغه لپاره يو شيطان [= بوختيا] ګمارو...» «ثُمَّ لَنَنْزِعَنَّ مِنْ كُلِّ شِيعَةٍ أَيُّهُمْ أَشَـدُّ عَـلَى الرَّحْمَنِ عِتِيًّا» [مريم ٦۹(۱۹:٦۹)]. «بيا به له هرې ډلې هغوی راوباسو، چې د رحمان [لوراند] پر وړاندې تر ټولو زيات سرغړاند ول.»

«... إِنَّ رَبَّكُمُ الرَّحْمَنُ فَاتَّبِعُونِي وَأَطِيعُوا أَمْرِي » [طه۹۰(۲۰:۹۰)]. «... او بې له شکه ستاسو پالونکی څښتن خو رحمان دی، نو له ما پليوني وکړئ او زما [= نه له سامري] اطاعت وکړئ....»

«قُلِ ادْعُوا اللَّهَ أَوِ ادْعُوا الرَّحْمَنَ ...» [اسراء ۱۱۰(۱۷:۱۱۰)]. «ووايه: [هغه که «الله» وبولئ يا «رحمان»، ...»

« ... وَهُمْ يَكْفُرُونَ بِالرَّحْمَنِ ...» [رعد ۳۰ (۱۳:۳۰)]. «...او دوی چې له رحمان [د الله د لوروني له صفته] منکريږي ...»

«قُـلْ هُـوَ الـرَّحْمَنُ آمَنَّـا بِـهِ وَعَلَيْـهِ تَوَكَّلْنَا...»[ملـک ۲۹(٦۷:۲۹)]. «ووايه: هغه [الله] رحمان دی [چې] پر هغه مو ايمان راوړی دی او يوازې پر هغه مو توکل کړی دی....»

(c) ketabton.com: The Digital Library


« وَإِذَا قِيلَ لَهُمُ اسْجُدُوا لِلرَّحْمَنِ...» [فرقان ٦٠(۲۵:٦٠)]. او کله چې هغوی [=مشرکانو] ته وويل شي: لوراند (رحمان) [الله] ته سجده وکړئ......

دا دوه مفهومونه [رب او رحمان] ول چې مشرکانو نشو زغملی او نه يې شو کولی هغه ومني. او په دې دوو څيزونو کې هغوی د انسانانو په اړه الهي توحيد نه منه، دا ځکه چې د هغوی ګټو او منفعتونو ته يي خطر پيښوه. دا د پيغمبر د زماني ستونزه وه. دا معنا په ځلونو په قرآن کې راغلې ده وايي؛ هر کله چې د خدای تعالی له وحدانيته خبره ويل کېږي، د هغوی بدې راځي:
وَإِذَا ذُكِرَ اللَّهُ وَحْدَهُ اشْمَأَزَّتْ قُلُوبُ الَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ بِالْآخِرَةِ وَإِذَا ذُكِرَ الَّذِينَ مِن دُونِهِ إِذَا هُمْ يَسْتَبْشِرُونَ.[زمر۴۵ (۳۹:۴۵)] «او هر کله چې الله په يووالي [= د شفاعت له نفی سره] ياد شي، د هاغو کسانو زړونه چې په آخرت باور نلري ترهيږي، خو هر کله چې له هغه غير ياد شي، هغه مهال دی چې خوښيږي [=ګلان يې له مخونو غوړيږي]!»

يعنې خدای مني او باور پرې لري، خو وايي: مه وايه چې يو دی! په يو ځای کې فرمايي چې مشرکينو ته عجيبه برېښي چې څوکووايي يوازې يو خدای وجود لري: «إِنَّ هَذَا لَشَيْءٌ عُجَابٌ.» [ص۵(۳۸:۵)] يوه عجيبه خبره کوي. په بل ځای کې فرمايي چې پيغمبر ته وايي آيا ته راغلی يې موږ ته ووايې چې يوازې د يو خدای عبادت وکړو؟ يعنې ته وايې هاغو څيزونو ته چې پلرونو مو پاملرنه کوله، پاملرنه ونکړو؟! او په بل ځای کې وايي: «... وَإِذَا ذَكَرْتَ رَبَّكَ فِي الْقُرْآنِ وَحْدَهُ وَلَّوْاْ عَلَى أَدْبَارِهِمْ نُفُورًا.» [اسراء ۴٦ (۱۷:۴٦)] «....هر کله چې په دې قرآن کې د خپل پالونکي ځښتن يووالی دې ياد کړې، شا کوي او له کرکې [او بېزارۍ] ليرې کېږي.».

نو کله چې هغوی ته ووايې يوازې او يوازې يو خدای، له تا په تېښته شي. فرمايي «....إِذَا دُعِيَ اللَّهُ وَحْدَهُ كَفَرْتُمْ وَإِن يُشْرَكْ بِهِ تُؤْمِنُوا....» [غافر۱۲(۴۰:۱۲)] «...چې هر کله الله په يووالي مطرح کېده [او توحيد ته د

(c) ketabton.com: The Digital Library


بلنې او له شرک او بُت پالنې څخه د لېرې والي غږ پورته کېده] تاسو انکار کاوه او که هغه ته کوم شريک عنوان کېده [د واسطو او شفيعانو پښه ورغځېده] باور مو کاوه...»

بس همدا چې توحيد مطرح کړې منکرېږي. بل ځای کې فرمايي هر کله چې د خدای له بندګانو يو قيام وکړي او خلکو ته پر دې بلنه ورکړي چې يو خدای وبولئ، ټول پرې ښورېږي؛ ټول پر هغه يرغل کوي. پيغمبره ووايه: إِنَّمَا أَدْعُو رَبِّي وَلَا أُشْرِكُ بِهِ أَحَدًا. ووايه زه يوازې او يوازې هغه، هغه واحد ربّ، بولم او هيڅ يو له هغه سره شريک نه ګڼم.

پر دې بنا اصلي مسئله توحيدي ژوند کول دي. او له همدې جهته، پيغمبران او امامان او ديني سروالان ټول موډل، مثل، نمونې او ساري دي او د هدايت لپاره واسطې دي. خو په هاغو چارو کې چې خدای تعالی ته اړوند او ځانګړي دي بايد يوازې هغه ته مخه کړی شي. په دې چارو کې هيڅوک واسطه کېدی نشي. اصلي ستونزه او کړبښت تل همدا دی، او په دې توګه همدا زموږ اصلي ستونزه هم ده. کله چې له خدای پرته نور کسان زموږ اعتقاد ته وارد شي، نو لږ لږ او ورو ورو خدای اړخ ته اېښوول کېږي.

له ياده بايد ونباسو چې خدای تعالی په هر ځای کې شته او داسې ځای نشته چې هغه هلته نه وي، هغه اول او آخر دی، که له آدمي سره د هغه ددې تلپاتې او دايمي نسبت او اړيکي څخه غفلت وشي، ورو ورو به يو لړ واسطې پيدا شي او وروسته به له دې واسطو سره د انسان اړيکه برقرار شي او انسان به ټول څيزونه له هغوی وغواړي. هغه مهال، انسان خپل ټول څيزونه له خدای پرته له نورو غواړي او نور نو د خدای په څرک، نښې او پوښتنې پسې نه ځي؛ نور نو له خدای سره کار نلري، خيال کوي او انګېري چې هغه [الله]، يو شمېر د واسطې کېدو لپاره په دنده ګومارلي چې زموږ اړتياوې او حاجتونه پوره کړي. نو لېوالتيا او علاقې د هغوی لور ته متوجه کېږي؛ دعا ګانې هغوی ته

(c) ketabton.com: The Digital Library


متوجه کېږي. البته دا څیزونه ظاهراً پر خپلې ژبه نه وایـي؛ بلکـې پـه ظـاهري توګه په ژبه خو وایي چې موږ غیر له خدایه بل څوک نه بلو او هغوی خو فقط زموږ د حاجتونو د پوره کولو وسیلې دي.

خو باید پوه شو چې په قرآن کې داسې اجازه هیڅـا تـه نـه ده ورکـول شـوې. خدای تعالی هیڅکله داسې فرمایلې نه دي. زموږ تېـر بحـث هـم همـدا وو. د «زمر» په سورة کې راغلي دي؛ کله چـې هغـوی تـه ویـل کېـږي چـې ولـې لـه خدای پرته بلئ، وایي موږ خو دوی نه بلو، موږ ددوی په توسه، خدای تعـالی ته نژدې کېږو او دوی د خدای لـور تـه د خپـل ځـان د نژدېـوالي او تقـرب د وسیلې په توګه ګومارو؛ لِيُقَرِّبُونَا إِلَى اللَّهِ زُلْفَى دوی د تقرب لپاره وسیله دي؛ د خدای په نزد زموږ شفیعان دي؛ موږ دوی ته متوسل کېږو. دا څرګنده ده چې زمـوږ پـه زمانـه کـې هـم توسـل او شـفاعت ددې لپـاره نـه دی چـې خـدای ونمانځي، بلکې د حاجتونو د رفع کولو لپاره دی؛ د دنیوي مادي اړتیاو د پوره کولو او رفع کولو لپاره دي. په واقعیت کې دا بزرګان زموږ د دنیوي مقصـدونو د رسېدلو لپاره وسیله شوي دي. سمدم لکه دوی چـې زمـوږ پـه خـدمت کـې وي! هغوی حاضروو چې لاړ شي زموږ حاجتونه او اړتیاوې له خدایـه واخـلي! همدا ځای دي چې الله وایي دا شرک دی.

الهي انسانان ددې پر ځای چې د خدای پـالنې پـه لارلیـک کـې او د خـدای نمانځنې په اوږدو کې وګومارل شي، په عرض کې یې واقع شـوي دي. هغـوی به په خپل وخت کې د توحید لپاره کار کړی وي خو د ورپسې زمانو خلکو لـه هغوی د توحید د زده کړې پر ځای، د خپلـو مـادي او دنیـوي سـتونزو لیـرې کول غواړي او هیلې یې د الله پر ځـای هغـوی تـه کېـږي، مـوږ چـې غـواړو خدای تعالی ونمانځو، باید د خدای(ج) له دې صالحو بندګانو، له پیغمـبره، لـه امامانو، او نورو بزرګـانو زده کـړه وکـړو چـې مـوږ څـه ډول خـدای تعـالی لـه اخلاص سره په خالصانه توګه ونمانځو. دا ډېره زیاته ښه خبره ده؛ هیڅ سـتونزه

(c) ketabton.com: The Digital Library


او اشکال هم نلري؛ هغوی باید د خدای نمانځنې لپاره زموږ مربیان او ښوونکي اوسي؛ خو ددې پرځای چې له هغوی د توحیدي خدای نمانځنې زده کړه وکړو او له هغوی پلیوني وکړو کله کله هغوی ته د خدای تر څنګه ځای ورکول کېږي او هغوی ګومارل کېږي له دې انګېرنې سره چې هغوی کولی شي زموږ ستونزې حل کړي، چې همدا څرګند شرک دی.

## د انسانانو په عالم کې

## د خدای له ربوبیت او رحمانیت څخه د انکار نظري پایلې

کله چې د انسانانو د ژوند په صحنه کې د خدای تعالی د تدبیر لاس نالیدلی ونیول شو او د هغه له حضور او شهود څخه انکار وشو، په طبیعي توګه حساب او کتاب او د خالق او د هغه د خلق پر وړاندې د انسان له مسئولیت او تعهده انکار کېږي او انسان لکه د پرې شوي پړي او خوشې شوي قیزې، ملونې او واګو په څېر یَله او خوشې پرېښوول کېږي. کله چې ازمېښت او مسئولیت نفې شو، په منطقي توګه جزا او عقاب او «یوم الدین» چې هرڅوک باید د خپلو کړنو پایلو او نتیجې ته پکې ورسېږي، منتفي کېږي. او هر مهال چې د انسان د سرلیک اړیکه د هغه له لاسته راوړنو څخه تر انکار لاندې ونیول شي په اصل کې د انسان لارښوونه او هدایت او تربیت، روزنه او ارشاد بې معنا برېښي. پر دې ترتیب له توحیده انحراف او کږېدنه او له «ربوبیت» څخه انکار، نیغ په نیغه له دوو نورو بنسټیزو اصلونو، یعني د نبوّت [پیغمبری، کتاب، او هدایت] او قیامت [د جزا ورځ] انکار ته رسېږي او پای مومي. او په دې ترتیب توحید د داسې یو مثلث په څوکه کې ځای نیسي چې د هغه د زاویې تغییر نورو زاویو ته هم تغییر ورکوي. څرنګه چې مشرکینو له خدای سره د انسان اړیکه محال ګڼله، د رسولانو [او د خدای تعالی د استازو] له «بشر» والي څخه یې هم تعجب کوه او ویل یې: که خدای تعالی غوښتلی څوک د انسانانو د هدایت لپاره ولېږي هرومرو یې یوه پرښته ددې مأموریت لپاره غوره کوله.

(c) ketabton.com: The Digital Library


«فَقَالَ الْمَلَأُ الَّذِينَ كَفَرُوا مِنْ قَوْمِهِ مَا هَذَا إِلَّا بَشَرٌ مِثْلُكُمْ يُرِيدُ أَنْ يَتَفَضَّلَ عَلَيْكُمْ وَلَوْ شَاءَ اللَّهُ لَأَنْزَلَ مَلَائِكَةً...» [مؤمنون۲۴(۲۳:۲۴)]. «نو د قوم سروالانو یې چې [د هغه له رسالته] انکار کوه، [خلکو ته په خطاب کې یې] وویل: دا [سړی] ستاسو په څېر له بشر پرته [نور] څه نه دی چې [له دې دعوو سره] غواړي پر تاسو لوړتیا [= ریاست] لاسته راوړي او که الله غوښتلی [چې کوم استازی ولېږي]، نو هرومرو به یې کومه پرښته رالېږلې وای،... »

او له دې چې د خپلو کړنو او اعمالو پر جزئیاتو یې د خدای تعالی مراقبت او محافظت، د پاچا او رعیت سره په مقایسه کې، د هغه د شأن او برم ټیټوالی ګڼه، او ویل د خدای درجه دومره ټیټه نخ ده چې زموږ خبرو ته غوږ ونیسي د خپلې وینا او چلن پر وړاندې یې کوم مسؤلیت نه پېژاند او له دې څخه چې د هغوی کړنې او عملونه ثبت او ضبط کېږي او یوه ورځ بایـد د هغـوی پـه اړه ځواب ویونکي اوسي، له ملنډو، تمسخر او تعجب سره یادونه کوله؟. قـرآن پـه عمده توګه د «یوم الدین» په اړه د هغوی تکذیب او دروغ ګڼه، چې کړنـو او عملونو ته د رسېدنې ورځ ده نقل کړې ده، ګواکې قیامت او بعثت او د هـاغې ستري ورځې نور اړخونه او ابعاد هغوی ته اصلاً مطرح نـه ول او پـه قـرآن کـې ددې موردونو د تکذیب په اړه [له یوم الفصل پرته] نغوته نه ده شوې.

«هَذَا يَوْمُ الْفَصْلِ الَّذِي كُنْتُمْ بِهِ تُكَذِّبُونَ»[صافات ۲۱ (۳۷:۲۱)] [هـو] دا هماغـه [له حقه د باطل، مؤمن له کـافره] د بېلتون ورځ ده، چې له یوې مخـې مـو دروغ ګڼله [او انکار مو ترې کوه].

## له توحیده د انکار عملي نتیجې او پایلې

له خـدای سره د انسـان د مسـتقیمې اړیکـې پـه شـونتیا د اعتقـاد نـه درلـودل او د انسـانانو هـر یـوه تـه د پـالونکي څښـتن د تلپـاتې رحمـت پـر فیضـان نابـاوري، ځینـې نتیجـې او پـایلې لـه ځـان سره راوړي چـې پـه لانـدې توګـه د هغوی مهمترینو ته نغوته کوو:

(c) ketabton.com: The Digital Library


۱ ـ عبادت من دون الله ـ د عبادت معنا د معبود پر وړاندې د نفس هموارول او د هغه تسليم دی. مشرکينو له دې چې الهه او بېل بېل اربابان يې په خپل ژوند کې اغېزمن او مؤثر ګڼل او د منفعت او ګټو په جلب او د ضرر په دفع کې به يې هغوی ته پناه وروړله، د هماغوی پر وړاندې به رام او تسليم، خاشع او خاضع ګرځېدل او خپل نفسونه به يې د هماغوی پر وړاندې خوار او ذليل کول. که په قرآن کې ويل شوي «لاتعبدوا الشيطان» داسې ونه انګېرل شي چې موږ د شيطان له نمانځنې منع شوي يو! ځکه چې داسې نه برېښي کوم څوک دې د شيطان نمانځنه وکړي يا څوک دې شيطان نمانځی وي! د شيطان نمانځنه همدا د هغه وسوسو، تحريکونو او هڅونو ته رام کېدل او تسليمېدل دي او مشرکين هم چې عبادت يې د بتانو په درشل کې، د هغوی نمانځنه نه، بلکې خدای ته د تقرب په خاطر هغوی ته د ذلت ځرګندونه وه «... مَا نَعْبُدُهُمْ إِلَّا لِيُقَرِّبُونَا إِلَى اللَّهِ زُلْفَى ...» [زمر ۳(۳۹:۳)]. « ....[باطله ادعا يې داده چې وايي] موږ دا نه نمانځو، مګر له دې کبله [هغوی ته متوسل کېږو] چې موږ خدای ته [د حاجتونو په وړاندې کولو کې] نږدې کړې.....»

۲ ـ د الهه او ارباب شفاعت ـ کله چې بشر ونشي کولی له خدای سره اړيکه بر قرار کړي، او له خپل پالونکي څښتنه فيض او فضل تر لاسه نشي کړی، له دې پرته بله چاره نه پاتې کېږي چې ليد او نظريه يې د يو لړ انګېرنو په قالب کې رامنځته شي له دنيايي ټلوالی سره په لوبولو کې، په شفيع او واسطې پسې وګرځي چې د خدای په نزد ددوی لپاره د لار او چار پرانستنه وکړي او لار او ګودر ورته پرانيزي او کار يې مخې ته لاړ شي. نو وينو که سر يې د بتانو پر درشل ټيټاوه، هغوی يې د خدای په نزد د ځان لپاره شفيعان ګڼل [هؤلاء شفعاؤنا عندالله] امېد او هيله يې درلوده چې د هغوی په وساطت به يې مصيبت او رېړ لېرې شي، منفعت او ګټه به يې تر لاسه شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


که څه هم د «شفاعت» مسئله او د عواملو او لاملونو یا د نورو انسانانو نقش د انسان په دنیائي او اخروي سرلیک کې د قرآن له لیده رد نه دی، خو توحیدي شفاعت هغه دی چې دا عمل د الهي تدبیر په چوکاټ کې یوازې خدای تعالی ته اړوند ګڼي او د نورو عواملو نقش د خدای تعالی له جهل او د نورو له کړنو څخه د بېخبرۍ له لامله نه، بلکې د هغه د «اذن» په بهیر کې ګڼي، چې دا فرق لري له هاغه مشرکانه شفاعت سره چې؛ د شفیعانو لپاره بالذات خپلواکي او استقلال قائل ول، چې د انسان عمل د هغه له سرلیک سره د مستقیمې اړیکې له قانونمندۍ خارجوي. د مشرکانو د انتظار وړ شفاعت په داسې ډول دی چې ګواکې خدای تعالی د ګناهګار بنده له نېکو یا بدو عملونو څخه کومه اطلاع نلري او باید کوم مقرب شخص یا پرښته په منځ کې وي او په دې اړه یې وساطت او منځګړیتوب وکړي، او د ګناهګار بنده عرض او خبر هغه ته ورسوي، او په اصطلاح ټلوالي او حزبي ګري وکړي.

۳ـ د «من دون الله» بلل او دُعا کول ـ طبیعي ده کله چې انسان د امید سترګې له خدای پرته بل معبود ته ولري، بل معبود که فرعون وي، یا پرښته یا احبار او رهبان وي، نو هماغه بلي او د تکلیف او زحمت پر مهال یې د غوښتنو «دُعا» هغه ته متوجه کېږي. همدا ځای دی چې قرآن هاغه کسان چې غیر له خدایه بل څوک بلي [یدعون من دون الله]، غندي او اعلاموي: «هاغه کسان چې په غیر له خدایه نور بلي، هغوی چې هیڅکله د کوم شفاعت څښتنان نه دي» [و لا یملک الذین یدعون من دونه الشفاعه ...]

نو که له دې لید او منظره، د قرآن دا آیتونه دقیق او په ژوره توګه ولولئ، وینئ چې ولې یې پر دې مسئلې تر دې کچې ټینګار کړی دی او ولې فرمایي: قل هو الله أحد. «الله» یعنې هاغه چې انسان له هغه سره د الوهیت اړیکه مومي؛ چې هغه د انسان معبود او معشوق دی او یوازې یو دی او له یو زیات نه دی. الله الصمد. خدای بشپړ دی، کامل دی، خالي او خلل منونکی نه دی،

(c) ketabton.com: The Digital Library


ډک دی، بې نیاز او ناارمن دی او ټول هغه ته اړمن دي، کـوم نقـص او عیـب نلري. یعنې ګومان ونکړو چې هغه په یو ځای کې کوم نقص لري او زه په هاغه ځای کې باید یو بل څوک مرستې ته وغواړم. تاسو وینئ چې په هر ځای کـې چې د شفاعت په اړه کومه مسئله راغلې ده – لـه یـو یـا دوه اسـتثنائاتو پرتـه – ورپسې تذکر ورکوي يَعْلَمُ مَا بَيْنَ أَيْدِيهِمْ وَمَا خَلْفَهُمْ [بقره ۲۵۵ (۲:۲۵۵)] خدای تعالی ستاسو د ټولو، لـه تیـر او حـال او راتلـونکي، او لـه هغـوی چـې تاسـو د شفاعت لپاره د هغوی لور ته ځئ، خبر دی. یعنې خدای ته هیڅ شیز مجهول نه دی چې څـوک هغـه تـه ورشي او وغـواړي چـې هغـوی لـه خپلـې وینـا او شفاعت سره له چا سره مرسته وکړي. خدای تعالی په هر شیز پوهېږي. او هـم دا چې له خدای تعالی څخه هیڅوک مهربانتر نه دی چـې وغـواړي خـدای د چا په اړه پر رحم راولي. که زمونږ په زړه کې رحم دی، معدن او بې نهایت یـې له خدای تعالی سره دی، او له هغوی یې د ستنې د څوکې پـه کچـه زمـونږ پـه زړونو کې ایښی دی. نو، هغه په هر شیـز پـوهېږي او هرچـاری هـم هغـه دی. خدای زمونږ په دننه کې دی. هغه زمونږ له دننیـو رازونـو خـبر دی. مخکـې لـه دې چې مونږ پر هغوی پوه شو، هغه پوهیږي. مخکې له دې چـې مـونږ ووینـو هغه یېویني. مخکې له دې چې مونږ واورو هغه یې اوري. مخکې له دې چې څه احساس کړو هغه پرې علم لري. زمونږ ټول احساسات او ادراکات زمـونږ پـه دننه کې د فعل او انفعالاتو محصـول دی؛ نـو مخکـې لـه دې چـې پـایلې تـه ورسېږي او زمونږ قلب کوم شیز احساس کړي، هغه پوهېږي چې زمونږ په دننـه کې څه تیرېږي او څه ستونزه لرو. نو، دې ته څه اړتیا ده چې کوم کـس زمـونږ په اړه خدای ته خبر ورکړي، چې له مونږ سره مرسته وکـړي. د دعـا او شـفاعت او توسل مسئله یوه میخانیکي چاره نه ده چې زه لاړ شم یـو څـوک ورتـه پیـدا کړم. د دنیایي چارو په څېر نه دی چې زه تاته ووایم لاړ شه لـه خدایـه دا زمـا لپاره وغواړه. دا ټول دننني حسونه دي او داسې کوم شیز نه دی چې زمـا لـه هویـت سره بـې اړیکـې وي. نـو، دا پـه اصـل کـې انسـان روح دی چـې بایـد

(c) ketabton.com: The Digital Library


متحول شي، دا اړيکه قلبي اړيکه ده. د زړه اړيکه خو واسطه نه غواړي. د انسان خپل ځان دی چې له خدای سره په خپل نژدې ارتباط کې لاندې باندې کېږي؛ د زړه حضور پيدا کوي؛ عوض کېږي؛ بدلېږي؛ او که کوم حق حاجت ولري، پوره کېږي. دا د هاغو مسئلو له ډلې نه ده چې موږ يې له بل چا وغواړو. قرآن فرمايي؛ هغوی چې تاسو ورپسې ځئ، [چې کېدی شي مقصد يې پرښتې او نبيان وي]، أُولَئِكَ الَّذِينَ يَدْعُونَ، هغوی چې تاسو يې بلئ، پخپله د خپلو حاجتونو لپاره خدای ته متوسل کېږي: يَبْتَغُونَ إِلَى رَبِّهِمُ الْوَسِيلَةَ هغوی پخپله خدای ته توسل لټوي؛ هغوی پخپله پالونکي څښتن ته د نژدېوالي لپاره د وسيلې پيدا کولو پسې دي. أَيُّهُمْ أَقْرَبُ هغوی پخپله خدای تعالی ته د تقرب او نژدېوالي قصد لري وَيَرْجُونَ رَحْمَتَهُ وَيَخَافُونَ عَذَابَهُ [اسراء۵۵(۱۷:۵۵)] د خدای تعالی رحمت ته هيله من او اميدوار او د هغه له عذابه په ډار کې دي. فرمايي تاسو ولې په هغوی پسې ځئ؟ هغوی پخپله د خدای پر لور مخ لري. تاسو ولې نيغ او مستقيم پخله د الله لور ته نه ځئ؟

۴ ـ غير له خدايه بل ته توسل ـ د ژغور او نجات لپاره يو عامل ته متوسل کېدل، يا له نورو نتيجو څخه برخمن کېدل، له توحيده انحراف دی. په قرآن کې دوه ځلې د «وسيلة» کليمه راغلې ده چې په لومړي کې د وسيلې لټولو ته له تشويق سره، د اشارې په توګه يې جهاد د اغېزمنې وسيلې په عنوان معرفي کړې دی: « يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اتَّقُوا اللَّهَ وَابْتَغُوا إِلَيْهِ الْوَسِيلَةَ وَجَاهِدُوا فِي سَبِيلِهِ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ» [مائده ۳۵ (۵:۳۵)] ای هاغو کسانو چې ايمان مو راوړی دی، له خدايه پروا ولرئ او د هغه لور ته د [تقرب د] وسيلې په لټه کې اوسئ او د هغه په لار کې جهاد وکړئ، ښايي وژغورل شئ.

او په دويم کې له پيغمبرانو څخه د ځينو نورو په نسبت د فضيلت په ذکر پسې، هاغو کسانو ته په خطاب کې چې د تکليفونو او کړاوونو د رفع کېدلو لپاره او په خپلو اوضاعو کې د تغيير، تحول او اووښتون لپاره له خدايه پرته

(c) ketabton.com: The Digital Library


نور کسان بلي او د هغوی لپاره نقش او اغېز انګېري، ټينګار کوي: «هغوی چې تاسو يې بلئ، (هغوی پخپله) د خدای لور ته د وسيلې په لټه کې دي چې د هغه پر لور له تقرب سره يو پر بل مخکېوالی وکړي او هغوی د هغه رحمت ته هيله من دي او د هغه له عذابه ډارېږي: «... وَلَقَدْ فَضَّلْنَا بَعْضَ النَّبِيِّينَ عَلَى بَعْضٍ وَآتَيْنَا دَاوُودَ زَبُورًا» «قُلِ ادْعُوا الَّذِينَ زَعَمْتُم مِّن دُونِهِ فَلَا يَمْلِكُونَ كَشْفَ الضُّرِّ عَنكُمْ وَلَا تَحْوِيلًا.» «أُولَٰئِكَ الَّذِينَ يَدْعُونَ يَبْتَغُونَ إِلَىٰ رَبِّهِمُ الْوَسِيلَةَ أَيُّهُمْ أَقْرَبُ وَيَرْجُونَ رَحْمَتَهُ وَيَخَافُونَ عَذَابَهُ .... » [اسراء ۵۵ (۱۷:۵۵) تر ۵۷] . «...او موږ ځينو له پيغمبرانو څخه پر ځينو نورو فضيلت [او غوره والی] بښلی او [له دې جملې مو] «داوود» ته «زبور» ورکړ. [ای پيغمبره م شرکينو ته] ووايه: هماغه کسان راوبلئ چې له خدای پرته يې [د خپلو حاجتونو په پوره کولو کې اغېزناک] ګڼئ؛ نو [و به وينئ چې] نه کولی شي له تاسو کړاو [او ضرر] لېرې کړي او نه [حتا] کولی شي کوم بدلون پيدا کړي [= د شرايطو تغيير رامنځته کړي]. هغوی چې دوی يې[مشرکان، يې د خپلو حاجتونو د پوره کولو لپاره] بلي، هغوی پخپله د خپل پالونکي ښتن درشل ته [د تقرب لپاره] د و سيلې په لټه کې دي چې [په نېکيو کې له سرعت او يو له بله په مخکې کېدو سره معلوم شي] په دوی کې کوم يو ډېر مقرب دی او [هغوی] د هغه [= الله] رحمت ته هيله من دي او [له توحيده د انحراف په صورت کې] د هغه له عذابه وېرېږي؛ ...»

ددې آيتونو مخاطبين کوم کسان دي؟ ټول خلک، او په ځانګړې توګه ټول مسلمانان دي او که د پيغمبر د مهال هماغه مشرکين؟ که څه هم ځينو ويلي چې نه خير، ددې آيتونو مقصد مشرکين دي چې د بتانو نمانځنه يې کوله. خو آيا مشرکين د خدای رحمت پسې ول؟ دوی وايي د هغو آيتونو مقصد چې فرمان يې ورکړی له الله پرته مه نمانځئ دادی چې بتان مه نمانځئ او هغوی د وسيلې په توګه مه ګومارئ، نو بُت نمانځونکو ته وايي. خو دا کسان پاملرنه نه کوي چې بُت خو د سړي لپاره کوم کار نشي کولی، بتان خو د

(c) ketabton.com: The Digital Library


خدای رحمت پسې نه دي او نه داسې کوم حس لري او د ويرې او ډار حس هم په هغوی کې نشته. فرمايي هاغه کسان چې تاسو يې بولئ هغوی پخپله د خدای رحمت ته د اميد سترګې نيولي او له خدايه ډارېږي. هغوی پخپله د خدای په توسل پسې دي. نو، تاسو لګيا ياست کوم لور ته ځئ؟ دا د اسراء سورة ۵۷ آية دی. يو ځل يې بيا په غور ولولئ له دې مخکې د انبيائو داستان راغلی دی. د انبيائو په اړه وايي چې هغوی نباید وسیله کړئ او هغوی نباید وبلئ، د کميل په دعا کې د حضرت علي له ژبې لولو إنّي اَتَقَرَّبُ إِلَيکَ بِذِکرِکَ، خدايه، زه تاته ستا له ذکر سره ستا پر لور نژديوالی لټوم. مګر پالونکي څښتن ته عرض نه کوي چې يَتَوَسَّلُ إِليکَ بِرُبوبِيَّتِکَ خدايه زه متوسل کېږم، اما څه ته؟ نه وايي ستا پيغمبر ته متوسل کېږم؛ وايي ستا ربوبيت ته متوسل کېږم. عرض کوي وَ أَستَشفِعُ بِکَ إِلَی نَفسِکَ تا پخپله تاته شفيع نيسم. دا خالص توحيد دی. حقيقي توحيد همدادی چې سړی د خدای ربوبيت ته متوسل شي او پخپله خدای شفيع ونيسي. دا يعنې خالصه خدای نمانځنه. نيغ د هغه پر لور تګ. ډېری خلک دا د کميل دعا په ځانګړې توګه د جمعې په شپه کې لولي، خو څومره يې معنا ته پاملرنه کوي؟

په پورتنيو آيتونو کې د مسيحيانو دا اعتقاد چې عيسی(ع) په سولۍ ځړول شوی چې له خپلې دې قربانۍ سره زموږ ګناهونه وېبري او دا چې د خدای په درشل کې زموږ شفيع اوسي، پر دې بنا بايد هغه ته متوسل شو او له هغه څخه د شفاعت غوښتنه وکړو، دا ټول په ښکاره توګه ردوي. الهي انبياء (عليهم السلام) پخپله خدای ته د تقرب او د رحمت د جلب او مغفرت لپاره د وسيلې په لټه کې ول، نو څه ډول د خدای بنده مجاز دی چې «د خدای پر ځای» هغوی ته متوسل شي او د خدای له عذابه خوندي پاتې شي؟

د هر چا توسل د هغه خپل عمل ته دی او که هم په حديثونو او روايتونو کې انبياء(ع) ته د توسل توصيه شوې، له هغوی څخه د پليونې له بابه او په هاغه لار

(c) ketabton.com: The Digital Library


کې پل ايښوول دي چې هغوی وهلې ده. په دې صورت کې که څوک په رښتيا د هغوی «اسوه» او لار ونيسي او عملاً له هغوی تبعيت او پليوني وکړي، ګواکې د خدای پر لور يې د تقرب لپاره وسيله کارولې ده. دا يو توحيدي توسل دی چې د عواملو او نورو وسيلو لپاره د خدای له مشيت څخه خارج ورته خپلواکي او استقلال قائل نه دی او که هم د هغه غوره بندګانو ته پاملرنه کوي نه د «الله» په عرض کې، بلکې د هغه د بنده ګۍ په طول کې ده.

## نتيجه اخېستنه او د پند او درس زده کړه:

تيرو پاڼو ته له پاملرنې سره چې د مشرکينو د اعتقادونو او کړنو په باب کې او د شرک د فلسفې د بنسټ په اړه وويل شول، دادی کولی شو يو ځل بيا د اخلاص سورة قرائت کوو او د خپلو سترګو په مخکې د هغې د معناو او بنسټيزو مقصدونو په ايښوولو سره، د خپل ژوندانه طريقې، آداب او سنتونه، چې د الهي حقه مذهب په ګومان، هغه ته پايبند شوي يو، له هاغه څه سره چې مشرکينو سر ته رسولي دي، په منصفانه توګه مقايسه کړو، او له الهي خالص دين او ابراهيمي توحيد سره د خپل واټن اندازه واخلو. او دا ووينو چې تر کوم بريده په عبادت، توسل، دعا، او شفاعت کې د توحيد لار کج کوو او تر کوم ځايه مو د شرک ښويندځای ته سقوط کړی دی، آيا نمانځنه مو د خدای په نسبت ده، يا سر مو د اشخاصو درشل ته ټيټ کړی دی او خپل نفس مو اراده کړل شوو ملوکانه غوښتنو او د بېلو بېلو مرادونو فتواګانو ته تسليم کړی؟

آيا خدای ته متوسل کېږو او هغه ته توکل کوو او يا د داسې وسيلې په لټه کې يو چې لکه د فرصت پالو او چالاکو وګړو په څېر لستوڼي مو بډ وهلي او له زيار ايستنې او پانګې اچونې پرته، خپل لاسونه د اهل توصيه او پيرانو او ميرانو او باباګانو پر لمنو ټينګوو؟ آيا په خالصانه توګه خدای بلو او عزت او حمد يوازې هغه ته ځانګړی ګڼو يا د نورو له ستاينې او په افراط ککړې ثنا سره او د هغوی لپاره په افراطي عزت او درناوي قائلېدلو د هغوی په تحسين او تمکين

(c) ketabton.com: The Digital Library


کې غاړه ږدو؟ او په پای کې آيا لکه د حضرت علي [د مؤحدينو د سرلاري] په خبر؛ شفاعت او توسل خدای ته ځانګړی ګڼو، لکه څنګه چې د کميل په دعا کې يې د هغه توحيدي لار ښوولې [... اللّٰهُمَّ إِنِّي أَتَقَرَّبُ إِلَيْكَ بِذِكْرِكَ، وَأَسْتَشْفِعُ بِكَ إِلَىٰ نَفْسِكَ ... وَيُنادِيكَ بِلِسانِ أَهْلِ تَوْحِيدِكَ، وَيَتَوَسَّلُ إِلَيْكَ بِرُبُوبِيَّتِكَ؟ ...]. يا په دې چارو کې د دين لويانو ته اصالت او ذاتي استقلال قائل يو؟ او د ستونزو او رېړ د لېرې کولو لپاره د پيرانو او ميرانو په درشلونو کې خپل سرونه ټيټوو او په څرګنده توګه د ښکاره شرک ارتکاب کوو.

موږ هره ورځ په خپلو پنځه ګونو لمونځونو کې لږ تر لږه اوولس ځلې له خدای تعالی سره ژمنه کوو چې [ايّاک نعبد و ايّاک نستعين]، او ټينګار او تصريح کوو چې يوازې او په ځانګړې توګه د هغه په نسبت به تعبد [د اطاعت او پيروۍ لپاره د نفس تسليم] ولرو او يوازې له هغه څخه مرسته او ياري غواړو. خپل وجدان قاضي ګومارو چې حکم وکړي تر کومې کچې په خپلې دې ادعا کې رښتينی يو. آيا په «ايّاک» کې الا او کومه استثنا هم شتون لري چې وکولی شي له ټوليزې قاعدې تخلف وشي او توجيه او تفسير کړی شي؟

پوهېږو چې مشرکين له «الله» منکر نه ول، بلکې د هغه له ربوبيت او رحمانيت څخه د انسانانو د عالم په نسبت منکرېدل. په رښتيا د وسمهال د مسلمانۍ او خدای نمانځنې مدعيان؛ چې لکه د نصارى په څېر خپل «احبار او رهبان» يې خپل اربابان نيولي دي او په هر حلال او حرام کې د هغوی مقلدين او سرسپارلي دي او د واحد «الله» پر ځای «ارباب متفرقون» ته خضوع کوي، څه توپير لري له هاغو مشرکينو سره چې د تاريخ په تېر مهال کې د انسانانو د عالم «ربوبيت» يې په الهي دستګاه کې کارمندانو ته تفويض شوی انګېره؟ هاغه څوک چې الله عملاً [نه يوازې په اعتقادي باورونو کې] خپل «رب» وګڼي، د زور

(c) ketabton.com: The Digital Library


او زر او تزویـر اربابـان د خپـل سرور او سـالار او سـیّد پـه توګـه نـه پیـژني، نه له هغوی ډارېږي او نه هغوی پورې خپلې هیلې او امیدونه تړي.

هغه څوک چې «الله» د رحمان په صفت پېژني، پر نورو بندګانو د ځان لپاره یا د خپل صنف او طبقې او هـم پوړیـو لپـاره کـوم امتیـاز، پـر نـورو اوچتـتر نـه قائلیږي او ټول د الهي رحمت تر بې بریده انـوارو لانـدي مساوي او برابـر پـه وروری کې ویني. پـه دې صـورت کـې د انسان لـه زړه اسـتعلا او اسـتکبار او استثمار زائلیږي او د پالونکي څښتن حکیمانه مشیت ته تسلیمیږي.

په واقعیت کې ددې سورة ټول بحث همـدا اخـلاص دی لـه همـدې لاملـه دا سورة «اخلاص» نومول شوی دی. «اخلاص» یعني خالصېدل. او همدا اخـلاص په دین کې خدای تعالی غوښتی دی. تاسو د اخلاص ډېره کارَونه او اسـتعمال د [زمر] په سورة کې وینئ. ددې سورة په پیلیزو آیتونو کې راغلي دي: أَلَا لِلَّـهِ الدِّينُ الْخَالِصُ [زمر ۳ (۳۹:۳)] دین باید په خالصه توګه سر ته ورسیږي؛ نـه دا چې په خدای نمانځنه کې د ځان او خدای تر منځه نورو عواملـو تـه دخالـت ورکړل شي. په دې سورة کې په ځلونو پیغمبر ته وایي چې ته اعـلام وکړه «قُـلْ إِنِّي أُمِرْتُ أَنْ أَعْبُدَ اللَّهَ مُخْلِصًا لَّهُ الدِّينَ.» [زمر ۱۱ (۳۹:۱۱)] ووایه: ماته امر شوی چې مخلصانه او په خالصانه طریقه د خدای عبادت وکړم.

خـدای تعـالی لـه شرک پرتـه، ټـولې ګناهګـانې ښـې، ځکـه چـې شرک د آدمي د عقل او ایـمان آفـت دی، همـدا چـې د یـو بنـده پـه دیـن کـې ډېـره کـوچنۍ ناخالصـي وارد شي، پـه تـدریج لکـه د خـوره پـه څېـر، د ایـمان انـدام او غـړي مسـخ کـوي. ځکـه چـې بشـر همـدا چـې محسـوس او ملمـوس لاسـتی ومـومي پـه هغـه پـورې نښـلي او لـه هاغـه څـه چـې نامحسـوس او نالیـدي دي لاس کـاږي، د سـامري پـر خوسـکي زړه تـړي، او د فرعـون لـه منګولـو څخـه ژغـورونکی پروردګـار هېـروي. دا چـې تـل پـه قـرآن کـې پیغمـبر [او مسـلمینو تـه] فرمـان ورکـړل شـوی دی خـدای تعـالی

(c) ketabton.com: The Digital Library


تـه «خالصـانه» عبـادت وکـړئ، أَلَا لِلَّـهِ الـدِّينُ الْخَـالِصُ ...، د همـدې لپـاره دی چـې د شرک لـه مختلفـو ډولونـو او د توحيـد د بريـدونو لـه تيـري څخه ځـان وساتئ. پـه رښـتيا زمـوږ پـه اسلامي ټولنـو کـې تـر کومـه بريـده الهـي کتـاب پـه مرافعـاتو کـې او د سـتونزو د حـل پـه لټـه کـې د مسئولينو او خلکـو د مراجعـې ميـزان او کنـډه ده او تـر کومـه بريـده د خـدای د رسـول «اسـوه»، الګـو او شـاهد دی؟آيـا زمـوږ پـه مسجدونو او مقدسـو مرکزونـو کـې قرآن ډېـر لوسـتل کېږي يـا نـور کتابونـه؟ آيـا دا راز بـې اعتنـائی، اعـراض او مخ اړونه له هدايت او کتاب او نبوت څخه عملي انکار نه دی؟

ومو ويل چې د «قل هوالله...» سورة لـه دې ليـده اخـلاص نومـول شـوی دی چې له هر ډول شرک، ريا او نفاق څخه د خالص کېدلو لار ښيئ، او همـدا راز له دې نظره توحيد نومول شوی دی چې د توحيد جامع اصول بيـانوي. هغـه يې سورة «الاساس» ګڼلی چې د احديت له اسمونو او صفتونو څخه د هستۍ د اساس او بنسټ ولاړېدل پيل کوي، او بالاخره هغه تـه يـې «نسبة الـرب» ويلـی چې د شرک اصلي غوټه پرانيزي هاغه غوټه چـې د «رب» نقـش تـه لـه آګاهانـه ايمان پرته او له خالق سره د مخلوق د اړيکې له طريقه په انحراف کې ده.

يو ځل بيا ددې سورة لنډ آيتونه قرائت کوو. له ژور او آګاهانه ايمان او اعتقـاد سره يې لولو «قل هو الله احد» هاغه کسان پرېـږده چـې لکـه د پيغمـبر د هـم مهالو مشـرکينو په څېر د خـدای د احـديت او يوازېتـوب لـه اورېـدلو سره زړه توري کېدل او ترېدل. او له دې کاره په شور او غوغا دي، او په آخرت ايـمان نه راوړي. «وَإِذَا ذُكِرَ اللَّهُ وَحْدَهُ اشْمَأَزَّتْ قُلُـوبُ الَّـذِينَ لَا يُؤْمِنُـونَ بِـالْآخِرَةِ ...» [زمر۴۵(۳۹:۴۵)] له دې وروسته خدای تعالی د «صمد» په صفت يـادوو: اللـه الصمد، خدای تعالی له هيڅ بابته خالي او خلـل منـونکی نـه دی چـې د هغـه لپاره کمال او رشد وانګېرل شي او کوم نقص او نقصان ورته قائل شي. هغـه لـه مطلق کمال، هستۍ او له قدرت او حيـات او علـم څخـه سرشـار دی. ورپسـې

(c) ketabton.com: The Digital Library


لولو: «لم يلد و لم يولد» هغه لـه تجزيـه او توالـد او تقسـيم او ويـش او بېلښـت څخه چې د مخلوقاتو له ځانګړتياو څخه دي پاک او منزه ګڼو. د هغـه پـه ذات او صفاتو کې تغيير او اغېز مننه نه رامنځته کېږي او کـوم فعـل او انفعـال پـرې صورت نه نيسي. پر دې بنا هيڅ نشي کېدی په ډېره وړه برخه له هاغه څـه کـې چې خدای تعالی پـورې اړه لـري، څـوک ورسره شريـک شي او د بنـدګانو لـه ډلې کوم بنده ته له انساني مقامه اوچت کوم مقام قائل شي.

او پـه پـای کـې سـورة لـه دې کـلام سره پـای تـه رسـوو چـې: «و لم يكـن لـه كفـواً احـدً». کلـه چـې د هغـه ربوبيـت مطلـق او پـر ټولـو عـالمينو خپـور وي [رب العـالمين]، او ټولـو موجوداتـو د هغـه د رحمـت پـه رڼـا کـې حيـات او حرکـت مونـدلی وي، هـيڅ دليـل نـه لـري چـې وانګېـرو خـدای تعـالی ددغـه هيښـوونکي او هـم غـږي نظـام لـه اجزائـو د يـوې برخـې اداره او تـدبير چـا تـه سـپارلی وي او د خيـر او رحمـت د خپرولـو او افاضـې لپـاره، د اسباب او علتونو له طريق پرته قائل شوی وي.

د خدای تعالی او خلق په اړه له خلکو د ډېريو تصور، د پادشاه او رعيت تصور دی چې د کارمندانو او اجرائي عواملو له طريق پرته کومه اړيکه له يو بـل سره نلري. خو خدای تعالی داسې يو پادشاه دی چې مستقيماً په واحده شېبه کـې له خپلو بندګانو هر يوه سره اړيکه لري، او هغوی يې دعوت کړي چې پرته لـه واسطې او پردې مسـتقيماً هغـه وبـلي او پـه دې صـورت کـې يـې د بنـدګانو د دعوت او دعا منلو ضمانت هم کړی دی[چـې هـيچ پادشـاه دا تضـمين نشـي کولی]: «وَإِذَا سَأَلَكَ عِبَادِي عَنِّـي فَـإِنِّي قَرِيـبٌ أُجِيـبُ دَعْـوَةَ الـدَّاعِ إِذَا دَعَـانِ فَلْيَسْتَجِيبُوا لِي وَلْيُؤْمِنُوا بِي لَعَلَّهُمْ يَرْشُدُونَ» [ بقره ۱۸٦ (۲:۱۸٦)].او کلـه چـې بندګان مې زما په اړه له تا وپوښتي، په جوته توګه زه نژدې يم [يعنـې حجـاب او لېرې والی خپله له هغوی دی]. زه د بلونکي دعا قبلـوم کلـه چـې مـا وبـلي [نـه د

(c) ketabton.com: The Digital Library


مادي حاجتونو لپاره]. نو باید ماته [د نږدې کېدو لپاره] زما بلنه ومنې او پر ما ایمان راوړي، ښايي رشد [او ودې] ته ورسیږي [او سمه لار ومومي].

په لنډه توګه ویلی شو چې، مشرکین معتقد ول چې سمه ده خدای تعالی جهان او ټول څیرونه پنځولي دي، خو لکه د پادشاه په څېر، چې د خلکو له پرګنو سره، که ښاري وي یا کلیوال، کوم سروکار نلري او یوازې مثلاً له لومړي وزیر سره اړیکه لري، یا د وزیرانو له پلاوي سره یې، او هغه هم د هغوی د پوړ او درجې په لړی کې، فرمانونه والیانو ته ورکوي او والیان هم ولسوالانو او ورپسې ټیټ پوړو چارواکو او مامورینو ته او تر آخره چې رسېدل کلیوالو او په پای کې ټول رعیت ته، نو موږ هم که وغواړو د عالم له پادشاه سره اړیکه ولرو، باید دا واسطې ووینو او هغوی ته ورشو او مثلاً یو لیک یا عریضه ولیکو او د ملوکانه عرض شرف ته یې ورسوو. دا تصور یو دنیایي انځور دی. بشري تصور دی. د خدای په اړه په هیڅ بڼه داسې نه دی خدای تعالی داسې پادشاه دی چې په هره شیبه کې له خپلو ټولو ښارمندانو او تبعه و سره په اړیکه کې دی؛ د هغوی په ځان او روح او وجود کې دی، موږ باید مستقیم او پرته له هیڅ واسطې خدای تعالی پسې ولاړ شو. توسل مو هغه ته وي. زموږ شفاعت باید خدای ته وي. موږ باید د هغه د مخلصو بندګانو د خدای نمانځنې ښخه درس واخلو او یونمانځنه او توحید له هغوی زده کړو او بس.

زموږ د خدای نمانځنې او دینداری بهترین مثالونه او نمونې زموږ پیغمبر او نور الهي پیغمبران دي. زموږ امامان او عالمان او دیني سروالان بهترین لارښوونکي او اسلام پېژندونکي دي چې د اسلام او قرآن په لمن کې روزل شوي دي. اما باید هغوی ته پاملرنه ولرو او له هغوی زده کړه وکړو چې څه ډول د خدای نمانځنه وکړو. د هغوی نقش زموږ د حاجتونو لپاره د واسطه کېدو نه دی؛ واسطه کېدل یې د توحید او یونمانځنې د زده کړې لپاره دی.

په دې اړه لا ډېر پراخه بحث کېدی شي او ډېرې ژورې او جدی څېړنې او پاملرنې ته اړتیا لري. صدق الله العليّ العظيم.

(c) ketabton.com: The Digital Library


لويه خدايه! زموږ په ټول عمر کې، موږ د توحيد په ليکه ثابت او ټيکاو لره! پالونکی څښتنه! د شرک څانګې ډېرې زياتې دي او له شرک څخه نجات ستا له لورېنې پرته نه حاصلیږي، موږ په خپل لطف د شرک له ټولو ډولونو وساته!

يا الهي! موږ له توحيد سره ژوندي کړه، او له توحيد سره مو مړه کړه، او د توحيد له حقيقت سره مو محشور کړه

اٰمِيْنَ يا رَبَّ الْعالَمِيْنَ

---

ضميمه (۱) : هغه آيتونه چې د مشرکينو اعتقادونه په دې اړه چې پرښتې يې د خدای تعالی اولاد ګڼل او هغوی لپاره او همدا راز پيريانو ته د انسانانو په عالم کې په نقش قائلېدل، د ملائکو مؤنث ګڼل، الله نمانځنه او ... څرګندوي:

انعام (۱۰۰ تر ۱۰۲) ـ وَجَعَلُوا لِلَّهِ شُرَكَاءَ الْجِنَّ وَخَلَقَهُمْ وَخَرَقُوا لَهُ بَنِينَ وَبَنَاتٍ بِغَيْرِ عِلْمٍ سُبْحَانَهُ وَتَعَالَى عَمَّا يَصِفُونَ ــ بَدِيعُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ أَنَّى يَكُونُ لَهُ وَلَدٌ وَلَمْ تَكُنْ لَهُ صَاحِبَةٌ وَخَلَقَ كُلَّ شَيْءٍ وَهُوَ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمٌ ــ ذَلِكُمُ اللَّهُ رَبُّكُمْ لَا إِلَهَ إِلَّا هُوَ خَالِقُ كُلِّ شَيْءٍ فَاعْبُدُوهُ وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ وَكِيلٌ.

صافات (۱۵۱ تر ۱۶۰) ـ أَلَا إِنَّهُمْ مِنْ إِفْكِهِمْ لَيَقُولُونَ ـ وَلَدَ اللَّهُ وَإِنَّهُمْ لَكَاذِبُونَ ـ أَصْطَفَى الْبَنَاتِ عَلَى الْبَنِينَ ـ مَا لَكُمْ كَيْفَ تَحْكُمُونَ ـ أَفَلَا تَذَكَّرُونَ ـ أَمْ لَكُمْ سُلْطَانٌ مُبِينٌ ـ فَأْتُوا بِكِتَابِكُمْ إِنْ كُنْتُمْ صَادِقِينَ ـ وَجَعَلُوا بَيْنَهُ وَبَيْنَ الْجِنَّةِ نَسَبًا وَلَقَدْ عَلِمَتِ الْجِنَّةُ إِنَّهُمْ لَمُحْضَرُونَ ـ سُبْحَانَ اللَّهِ عَمَّا يَصِفُونَ ـ إِلَّا عِبَادَ اللَّهِ الْمُخْلَصِينَ .

انبياء (۱۹ تر ۲۹) ـ وَلَهُ مَنْ فِي السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَمَنْ عِنْدَهُ لَا يَسْتَكْبِرُونَ ـ عَنْ عِبَادَتِهِ وَلَا يَسْتَحْسِرُونَ ـ يُسَبِّحُونَ اللَّيْلَ وَالنَّهَارَ لَا يَفْتُرُونَ ـ أَمِ اتَّخَذُوا آلِهَةً مِنَ الْأَرْضِ هُمْ يُنْشِرُونَ ـ لَوْ كَانَ فِيهِمَا آلِهَةٌ إِلَّا اللَّهُ لَفَسَدَتَا فَسُبْحَانَ اللَّهِ رَبِّ الْعَرْشِ عَمَّا يَصِفُونَ ـ لَا يُسْأَلُ عَمَّا يَفْعَلُ وَهُمْ يُسْأَلُونَ ـ أَمِ اتَّخَذُوا مِنْ دُونِهِ آلِهَةً قُلْ هَاتُوا بُرْهَانَكُمْ هَذَا ذِكْرُ مَنْ مَعِيَ وَذِكْرُ مَنْ قَبْلِي بَلْ أَكْثَرُهُمْ لَا يَعْلَمُونَ الْحَقَّ فَهُمْ مُعْرِضُونَ ـ وَمَا أَرْسَلْنَا مِنْ قَبْلِكَ مِنْ رَسُولٍ إِلَّا نُوحِي إِلَيْهِ أَنَّهُ لَا إِلَهَ إِلَّا أَنَا فَاعْبُدُونِ ـ وَقَالُوا اتَّخَذَ الرَّحْمَنُ وَلَدًا سُبْحَانَهُ بَلْ عِبَادٌ مُكْرَمُونَ ـ لَا يَسْبِقُونَهُ بِالْقَوْلِ وَهُمْ بِأَمْرِهِ يَعْمَلُونَ ـ يَعْلَمُ مَا بَيْنَ أَيْدِيهِمْ وَمَا خَلْفَهُمْ وَلَا يَشْفَعُونَ إِلَّا لِمَنِ ارْتَضَى وَهُمْ مِنْ خَشْيَتِهِ مُشْفِقُونَ ـ وَمَنْ يَقُلْ مِنْهُمْ إِنِّي إِلَهٌ مِنْ دُونِهِ فَذَلِكَ نَجْزِيهِ جَهَنَّمَ كَذَلِكَ نَجْزِي الظَّالِمِينَ.

(c) ketabton.com: The Digital Library


زمـر (۲ ـ ۵ ) ـ إِنَّا أَنْزَلْنَا إِلَيْكَ الْكِتَابَ بِالْحَقِّ فَاعْبُدِ اللَّهَ مُخْلِصًا لَهُ الدِّينَ ـ أَلَا لِلَّهِ الدِّينُ الْخَالِصُ وَالَّذِينَ اتَّخَذُوا مِنْ دُونِهِ أَوْلِيَاءَ مَا نَعْبُدُهُمْ إِلَّا لِيُقَرِّبُونَا إِلَى اللَّهِ زُلْفَى إِنَّ اللَّهَ يَحْكُمُ بَيْنَهُمْ فِي مَا هُمْ فِيهِ يَخْتَلِفُونَ إِنَّ اللَّهَ لَا يَهْدِي مَنْ هُوَ كَاذِبٌ كَفَّارٌ ـ لَوْ أَرَادَ اللَّهُ أَنْ يَتَّخِذَ وَلَدًا لَاصْطَفَى مِمَّا يَخْلُقُ مَا يَشَاءُ سُبْحَانَهُ هُوَ اللَّهُ الْوَاحِدُ الْقَهَّارُ.

مؤمنون (۹۱) ــ مَا اتَّخَذَ اللَّهُ مِنْ وَلَدٍ وَمَا كَانَ مَعَهُ مِنْ إِلَهٍ إِذًا لَذَهَبَ كُلُّ إِلَهٍ بِمَا خَلَقَ وَلَعَلَا بَعْضُهُمْ عَلَى بَعْضٍ سُبْحَانَ اللَّهِ عَمَّا يَصِفُونَ.

زخـرف (۸۱ تـر ۸٦) قُلْ إِنْ كَانَ لِلرَّحْمَنِ وَلَدٌ فَأَنَا أَوَّلُ الْعَابِدِينَ ـ سُبْحَانَ رَبِّ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ رَبِّ الْعَرْشِ عَمَّا يَصِفُونَ ـ ... ـ وَهُوَ الَّذِي فِي السَّمَاءِ إِلَهٌ وَفِي الْأَرْضِ إِلَهٌ وَهُوَ الْحَكِيمُ الْعَلِيمُ ـ ... ـ وَلَا يَمْلِكُ الَّذِينَ يَدْعُونَ مِنْ دُونِهِ الشَّفَاعَةَ إِلَّا مَنْ شَهِدَ بِالْحَقِّ وَهُمْ يَعْلَمُونَ.

بقره (۱۱٦) ــ وَقَالُوا اتَّخَذَ اللَّهُ وَلَدًا سُبْحَانَهُ بَلْ لَهُ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ كُلٌّ لَهُ قَانِتُونَ.

يونس (٦۸) ــ قَالُوا اتَّخَذَ اللَّهُ وَلَدًا سُبْحَانَهُ هُوَ الْغَنِيُّ لَهُ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَمَا فِي الْأَرْضِ إِنْ عِنْدَكُمْ مِنْ سُلْطَانٍ بِهَذَا أَتَقُولُونَ عَلَى اللَّهِ مَا لَا تَعْلَمُونَ.

اسراء (۱۱۱ او ۱۱۲) ـ قُلِ ادْعُوا اللَّهَ أَوِ ادْعُوا الرَّحْمَنَ أَيًّا مَا تَدْعُوا فَلَهُ الْأَسْمَاءُ الْحُسْنَى وَلَا تَجْهَرْ بِصَلَاتِكَ وَلَا تُخَافِتْ بِهَا وَابْتَغِ بَيْنَ ذَلِكَ سَبِيلًا ـ وَقُلِ الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي لَمْ يَتَّخِذْ وَلَدًا وَلَمْ يَكُنْ لَهُ شَرِيكٌ فِي الْمُلْكِ وَلَمْ يَكُنْ لَهُ وَلِيٌّ مِنَ الذُّلِّ وَكَبِّرْهُ تَكْبِيرًا .

كهف (۴ او ۵) ـ وَيُنْذِرَ الَّذِينَ قَالُوا اتَّخَذَ اللَّهُ وَلَدًا ـ مَا لَهُمْ بِهِ مِنْ عِلْمٍ وَلَا لِآبَائِهِمْ كَبُرَتْ كَلِمَةً تَخْرُجُ مِنْ أَفْوَاهِهِمْ إِنْ يَقُولُونَ إِلَّا كَذِبًا.

مريم (۸۸ تر ۹۳ ) ـ وَقَالُوا اتَّخَذَ الرَّحْمَنُ وَلَدًا ـ لَقَدْ جِئْتُمْ شَيْئًا إِدًّا ـ تَكَادُ السَّمَاوَاتُ يَتَفَطَّرْنَ مِنْهُ وَتَنْشَقُّ الْأَرْضُ وَتَخِرُّ الْجِبَالُ هَدًّا ـ أَنْ دَعَوْا لِلرَّحْمَنِ وَلَدًا ـ وَمَا يَنْبَغِي لِلرَّحْمَنِ أَنْ يَتَّخِذَ وَلَدًا ـ إِنْ كُلُّ مَنْ فِي السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ إِلَّا آتِي الرَّحْمَنِ عَبْدًا.

فرقان (۲ او ۳) ـ الَّذِي لَهُ مُلْكُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَلَمْ يَتَّخِذْ وَلَدًا وَلَمْ يَكُنْ لَهُ شَرِيكٌ فِي الْمُلْكِ وَخَلَقَ كُلَّ شَيْءٍ فَقَدَّرَهُ تَقْدِيرًا ـ وَاتَّخَذُوا مِنْ دُونِهِ آلِهَةً ...

زمـر (۴) ـ لَوْ أَرَادَ اللَّهُ أَنْ يَتَّخِذَ وَلَدًا لَاصْطَفَى مِمَّا يَخْلُقُ مَا يَشَاءُ سُبْحَانَهُ هُوَ اللَّهُ الْوَاحِدُ الْقَهَّارُ.

جن ـ (۲ او ۳) ـ ... وَلَنْ نُشْرِكَ بِرَبِّنَا أَحَدًا ـ وَأَنَّهُ تَعَالَى جَدُّ رَبِّنَا مَا اتَّخَذَ صَاحِبَةً وَلَا وَلَدًا.

(c) ketabton.com: The Digital Library


نساء (۱۷۱) ـ ... وَلَا تَقُولُوا ثَلَاثَةٌ انْتَهُوا خَيْرًا لَكُمْ إِنَّمَا اللَّهُ إِلَهٌ وَاحِدٌ سُبْحَانَهُ أَنْ يَكُونَ لَهُ وَلَدٌ لَهُ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَمَا فِي الْأَرْضِ وَكَفَى بِاللَّهِ وَكِيلًا.

مريم (۳۵) ـ مَا كَانَ لِلَّهِ أَنْ يَتَّخِذَ مِنْ وَلَدٍ سُبْحَانَهُ إِذَا قَضَى أَمْرًا فَإِنَّمَا يَقُولُ لَهُ كُنْ فَيَكُونُ.

## ضميمه (۲) ـ د خدای تعالی په يووالي د مشرکينو اعتراض او نيوکه:

ص (۵) ـ أَجَعَلَ الْآلِهَةَ إِلَهًا وَاحِدًا إِنَّ هَذَا لَشَيْءٌ عُجَابٌ.

اعراف (۷۰) ـ قَالُوا أَجِئْتَنَا لِنَعْبُدَ اللَّهَ وَحْدَهُ وَنَذَرَ مَا كَانَ يَعْبُدُ آبَاؤُنَا ...

اسراء (۴٦) ـ ... وَإِذَا ذَكَرْتَ رَبَّكَ فِي الْقُرْآنِ وَحْدَهُ وَلَّوْا عَلَى أَدْبَارِهِمْ نُفُورًا.

زمر (۴۵) ـ وَإِذَا ذُكِرَ اللَّهُ وَحْدَهُ اشْمَأَزَّتْ قُلُوبُ الَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ بِالْآخِرَةِ ...

مؤمن [غافر] (۱۲) ـ ذَلِكُمْ بِأَنَّهُ إِذَا دُعِيَ اللَّهُ وَحْدَهُ كَفَرْتُمْ ...

جن (۱۹ او ۲۰) ـ وَأَنَّهُ لَمَّا قَامَ عَبْدُ اللَّهِ يَدْعُوهُ كَادُوا يَكُونُونَ عَلَيْهِ لِبَدًا ـ قُلْ إِنَّمَا أَدْعُو رَبِّي وَلَا أُشْرِكُ بِهِ أَحَدًا.

---

**يادونه:** ددې تشريح د ليکلو پر مهال لاندينيو سرچينو ته هم مراجعه شوې ده:


۱ ــ نظم قرآن ــ د عبدالعلي بازرگان ليکنه

۲ ــ آشنايي با قرآن ــ د مرتضی مطهري ليکنه

۳ ــ في ظلال القرآن ــ د سيد قطب ليکنه

۴ ــ تفهيم القرآن ــ د مولانا سيد ابوالاعلی مودودي ليکنه

۵ ــ تدبر قرآن ــ د مولانا امين احسن اصلاحي ليکنه

٦ ــ قرآن حکيم [ترجمه و توضيحات فارسي] ــ عبدالعلي بازرگان

۷ ــ الميزان في تفسيرالقرآن ــ د سيد محمدحسين طباطبائي ليکنه

۸ ــ کابلي تفسير [قرآن کريم ترجمه او تفسير ــ مولانا محمود الحسن ديوبندي او علامه شبيراحمد عثماني] پښتو کوونکي : د عالمانو يوه ډله

۹ ــ پرتوی از قرآن ــ د سيد محمود طالقاني ليکنه

۱۰ ــ تفسير نمونه ــ د آيت الله مکارم شيرازي او د ورسره علماو د پلاوي ليکنه

۱۱ ــ تفسير نور ــ د مصطفی خرمدل ليکنه

۱۲ ــ تابشي از قرآن ــ د سيد ابوالفضل ابن الرضا برقعي قمي ليکنه

۱۳ ــ تفسير باران ــ د دوکتور مهدي خُدّاميان آراني ليکنه

۱۴ ــ ترجمه تفسير طبري ــ د حبيب يغمائی په اهتمام او تصحيح

۱۵ ــ تفسير ابن کثير [حافظ عمادالدين ابوالفدا اسمعيل بن عمر ابن کثير الدمشقي] اردو ته ژباړه : مولا محمد جوناګړهي

(c) ketabton.com: The Digital Library



١٦ ـ معارف القرآن ـ د مولانا مفتي محمد شفيع ليکنه

١٧ ـ تفسير مصباحين (اردو) ترجمه و شرح تفسير جلالين ـ ليکونکي : جلال الدين محلي او جلال الدين سيوطي ـ اردو ته ژباړه او شرح: محمد لياقت علي رضوي

١٨ ـ تفسير کمالين د جلالين تفسير اردو شرح د : مولانا محمد نعيم ديوبندی

١٩ ـ د قرآن عظيم الشان پښتو ژباړه ـ مولوي قيام الدين کشاف

٢٠ ـ عزيزالتفاسير ـ د قرآن کريم پښتو ترجمه او تفسير ـ مولوي سلطان عزيز (عزيز)

٢١ ـ صفوة‌التفاسير ـ د محمدعلي الصابوني ليکنه ـ ژباړونکی: مولوي شمس الله کمال زاده

٢٢ ـ د قرآن پلوشې ـ د ګلب الدين حکمتيار لېکنه

٢٣ ـ تفسير دېوبندي ـ د مولوي عبدالحنان لېکنه

٢٤ ـ حکمة القرآن ـ د مولوي امين الله پېښاوری لېکنه

٢٥ ـ تفسير ايوبي حنفي ـ د مولانا محمد عبيدالله ايوبي لېکنه

٢٦ ـ تفسير احسن الکلام ـ د مولوي عبدالسلام رستمي ليکنه

٢٧ ـ قرآن کريم په پښتو ـ د اجرالدين اقبال ژباړه

٢٨ـ شرحې بر سوره های قرآن ـ عبدالعلي بازرګان ـ د عبدالعلي بازرګان وېب پاڼه [bazargan.com]

٢٩ ـ تفسير روح القرآن ـ مؤلف ډاکتر مولانا محمد اسلم صديقي.

٣٠ ـ د قرآن ټکی په ټکی او روانه ترجمه ـ مولوي جانباز سرفراز

٣١ ـ روح المعاني فی تفسيرالقرآن العظيم والسبع المثانی ـ العلامه ابی الفضل شهاب الدين محمودالالوسی البغدادي

٣٢ ـ تفسير جواهرالقرآن ـ مولانا حسين علي

٣٣ ـ تفسير روح البيان ـ شيخ اسماعيل حقی البروسوی

٣٤ ـ «کنزالايمان او تفسير نورالعرفان»ترجمه احمد رضاخان بريلوي، تفسير احمد يارخان نعيمي

٣٥ ـ کشف الاسرار و عُدة الابرار ـ [د قرآنکريم ادبي او عرفاني تفسير] خواجه عبدالله انصاري

٣٦ ـ د قرآن رڼا [د قرآن پښتو معنا او لنډ تفسير] مولوی محمد ظاهر اسدالله مکي

٣٧ ـ تفسير الفخرالرّازی المشهور بالتفسيرالکبير و مفاتيح الغيب، امام محمد الرازی فخرالدين

٣٨ ـ التّفسيرالمبين ـ دوکتور عبد الرحمن بن حسن النّفيسه

٣٩ ـ تفسير قرطبی ـ محمد بن احمد بن ابوبکر قرطبي، ترجمه اردو: پيرمحمد کرم شاه

٤٠ ـ المفصل في تفسيرالقرآن الکريم ـ المشهور بتفسيرالجلالين ـ للامام جلال الدّين المحليّ والامَام جلال الدِّين السّيُوطيّ.

٤١ ـ «سير تحوّل قرآن» ـ مهندس مهدي بازرګان

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**